# پر اندلس(سپین) د مسلمانانو واکمنۍ ته لنډه کتنه

لیکنه: محمد رسول پیروز(زبیر افغان)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | د لیکوال سریزه | ۱ |
| ۲ | تر اسلام مخکې د اندلس شالید | ۳ |
| ۳ | د اندلس د نومونې وجه | ۳ |
| ۴ | جغرافیه او حدود یې | ۵ |
| ۵ | سیاسي او اقتصادي وضعیت | ۵ |
| ٦ | د قوطیانو شمېر او د مشر ټاکلو طریقه | ٦ |
| ۷ | رسمي مذهب او ژبه یې | ۷ |
| ۸ | ټولنیز ژوند | ۸ |
| ۹ | اندلس ته د مسلمانانو د ورتلو لاملونه | ۹ |
| ۱۰ | پر اندلس د مسلمانانو برید | ۱۱ |
| ۱۱ | په اندلس کې د مسلمانانو لومړنۍ اشتباه | ۲۰ |
| ۱۲ | د بلاط الشهداء ستره جګړه او د مسلمانانو پریکنده ماتې | ۲۲ |
| ۱۳ | د اندلس پر خاوره اموي خلافت | ۲۵ |
| ۱۴ | اندلس ته د تیریدلو فکر | ۲٦ |
| ۱۵ | د مصادرې جګړه او قرطبې ته د عبد الرحمن دخول | ۳۰ |
| ۱٦ | د خلافت سقوط | ۴۲ |
| ۱۷ | مرابطین په اندلس کې | ۵۲ |
| ۱۸ | له قدرته د ملوك الطوائف ایسته کول او د اندلس اتحاد | ۵۵ |
| ۱۹ | د غرناطې د مملکت دور(یا وړوکی اندلس) | ٦۰ |
| ۲۰ | د غرناطې سقوط او په اندلس کې د مسلمانانو د دورې پای | ٦۲ |
| ۲۱ | په اندلس کې د مسلمانانو د ماتې لاملونه | ٦۵ |
| ۲۲ | ماخذونه | ٦۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## د ليکوال سريزه

الْحَمد لله المتفرد بِالْبَقَاءِ والقدم، المنزه عَن الفناء والعدم، وصلواته على رَسُوله مُحَمَّد خير بريته، وعَلى آله وَصَحبه وأزواجه وَذريته.

دغه ليکنه مې د پوهنتون له لوري راته صنفي فعاليت پـه توگـه انتخـاب شـوې وه چې موضوع د هغوی وه او تحقيق يې بايد ما خپله کړی وای. نـو لـومړی مـې دا ليکنه په پوهنتون کې استاد ته وړاندې کړېده چې تر هغه وروسته استاد وهڅـولم چې دا ليکنه يو ځای خپره کړم څو نور کسان ورڅخه استفاده وکړي، له دې امله مې وغوښتل چې د کتاب په بڼـه يـې واوډم او بيـا يـې انلايـن کـړم چـې د گټـې اخيستنې وړ شي.

د کتاب مراجع په اخر کې ذکر شوي دي، که څه هم محدود دي، خو ما پر هغـو کتابونو تکيه کړې ده چې تر ډېره حده يې له خرافاتي رواياتو او بې ځايه ادعاگانو څخه ډډه کړې ده، ځينې مشهورې کيسې چې د اندلس په اړه په کتابونو کې موږ لوستې وې، هغه بې اساسه وې چې ما يې پر ځای يادونـه کـړې ده او د رد دلايل مې هم ورسره راوړي دي.

مراجعو ته حوالې په لمنليک کې راغلې دي چې لوستونکو ته اساني شي څو نه د کتاب لوستلو تسلسل يې گډوډ شي او هم که يې ځای پر ځای د سرچينې کتـل غوښتل هغه هم ژر پيدا کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاریخ په اړه دقیقه پریکړه نه شي کیدای، د یوې موضوع په اړه منفي یـا مثبـت دریځ د هغې د دلایلو قوت او ضعف ته پـه کتـو کېږي چـې بیـا هـم سـل سـلنه پریکړه نه وي بلکې ترجیح ور کول کېږي، نو که دلته زه د ترجیحي قضاوتونو په اړه تر یوه بریده ښه وم، دا به مې د ښـې مطـالعې او غـوره سرچینـو پـر انتخـاب دلالت کوي او که خطاوتلی وم، نو زما قصور او نقص به په ګوته کوي.

په پښتو کې د اندلس په اړه زیاته څه نه دي لیکل شوي، که څـه هـم د موضـوع دومره لویه ده چې باید د ماسټرۍ تیزس یا د دوکتورا ریزلټیشن پر ولیکل شي، اما زما دغه کار ښايي د راتلونکو زیاتونو لپاره یو ګام وي. نور ورځئ کتاب تـه چـې تاریخ ته مو ورسره بوزي.

پېروز

۲۹/۱۱/۲۰۲۰

۹/۹/۱۳۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تر اسلام مخکې د اندلس شالید

### د اندلس د نومونې وجه:

د اندلس پخوانی نوم ایباریه دی، رومیان چې دې سیمې ته راغلل د هسپانیه نـوم یې پر کېښود چې وروسته په منځنیو پېړیو کې په سپین واوښت.[۱]

د انـدلس اوسـنی نـوم اسپانیه(هسـپانیه) او پرتگـال دی، شـپږلکه کیلـو مترمربـع مساحت لري. د میلاد په دربیمه یا هم د پنځمې پېړۍ پـه شروع کـې د فنـدال پـه نوم یو قوم چې عرب یـې ونـدال وایـي، لـه سـویډن، ډنمـارك او نـاروې څخـه همدغې سیمې ته را وکوچېدل البته ځینـو مورخینـو دغـه قـوم او ورسره نـور یـې جرمني یاد کړي دي. د فندال معنا ده وحشت، کوچیتوب او له مدنیته پردیتـوب، دغه کوچي قبایل په همدې سیمه کې د لږ وخت لپاره واوسیدل له دې امله دغـه منطقه د فندلسیا نوم واخیسـت چـې وروسـته اندلسـیا/اندلس شـوه. لـه دوی سره قوطیانو جگړې وکړې چې په پایله کې یې د عیسویانو د قوط پـه نـوم یـوې ډلـې حاکمیت واخیست او د مسلمانانو تر راتلو یې حضور در لود.[۲]

خو ابن اثیر(مړینه: ۶۳۰هـ) په الکامل في التاریخ کې د اندلس د نومونې بله وجه هم ذکر کړې ده. دی وایي:

أَوَّلُ مَنْ سَكَنَهَا قَوْمٌ يُعْرَفُونَ بِالْأَنْدَلُشِ، بِشِينٍ مُعْجَمَةٍ، فَسُمِّيَ الْبَلَدُ بِهِمْ، ثُـمَّ عُـرِّبَ بَعْدَ ذَلِكَ بِسِينٍ مُهْمَلَةٍ، وَالنَّصَارَى يُسَمُّونَ الْأَنْدَلُسَ أَشْبَانِيَةَ، بِاسْمِ رَجُلٍ صُلِبَ فِيهَا يُقَالُ لَهُ: أَشْبَانِسُ، وَقِيلَ: بِاسْمِ مَلِكٍ كَـانَ بِهَـا فِي الزَّمَـانِ الْأَوَّلِ اسْـمُهُ إِشْـبَانُ بْـنُ طِيطَسَ، وَهَذَا هُوَ اسْمُهَا عِنْدَ بَطْلَيْمُوسَ. وَقِيلَ: سُمِّيَتْ بِأَنْدَلُسَ بْنِ يَافِثَ بْنِ نُـوحٍ

---

[۱] تاریخ العرب و حضارتهم في الاندلس: ۱۱/۱

[۲] اندلس من الفتح الی السقوط: ۷/۱، قادة فتح الاندلس: ۵۶/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَهُوَ أَوَّلُ مَنْ عَمَّرَهَـا. قِيـلَ: أَوَّلُ مَـنْ سَـكَنَ الأَنْـدَلُسَ بَعْـدَ الطُّوفَـانِ قَـوْمٌ يُعْرَفُـونَ بِالأَنْدَلُسِ، فَعَمَرُوهَا وَتَدَاوَلُوا مُلْكَهَا دَهْرًا طَوِيلاً، وكَانُوا مَجُوسًا.[٣]

ژباړه: لومړی هلته د اندلش په نوم قوم اوسیده چې په شین ویل کېږي، دغه سیمه د دوی په نوم ونومول شوه، بیا یې شین په سین واوښت، نصارا اندلس ته اشـبانیه وایي، د هغه کس په نوم یې یادوي چې دلته راځړول شوی د هغه نوم اشبانس و، بل قول دادی چې د اشبان بن طیطس په نوم دغې سیمې پاچا در لـود چـې دغـه نوم د اندلس لپاره مشهور جغرافیه پوه بطلیموس هم تایید کړی دی، د بل قول له مخې لومړی دا سیمه د نوح علیه السلام یوه لمسي اندلس بن یافث بن نوح وادانه کړه، بل قول دادی چې دلته لومړی تر طوفان وروسته د انـدلس پـه نـوم یـو قـوم اوسیده چې دا سیمه یې ودانه کړه او زیات وخت یې پکې پاچاهي وکړه، د دیـن له مخې مجوسیان وو.

د اندلس اطلاق یا پر ټول پرتګال او زیـاتره اوسـنی سـپین بانـدې کېـږي یـا هـم اندلس هغې سیمې ته ویل کېږي چې مسلمانانو حکومت پر کړی دی.[٤]

---

[٣] الکامل في التاریخ : ٤/ ٣٥.

[٤] قادة فتح الاندلس: ٥٧/١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جغرافیه او حدود یې:**

اندلس یا جزیره نما ایبیریه د اروپایي وچې په جنوب لویدیځه برخه کې واقع ده، جنوب ته یې د فرانسې البرت غرونه دي، همداشان یې له افریقایي وچې څخه د جنوب په خوا کې د جبل طارق تنګی بیلوي چې له ختیځه تر لویدیځه یې عرض له ۱۳ تر ۳۷کیلو میټره کېږي. دغه تنګی له بحر الاخضر یا اقیانوس او هم له بحر متوسط سره مبنلي.

شمال او شمال لویدیځ ته یې بحر الاخضر دی، لویدیځ سواحل یې هم د محیط الاطلسي یا اقیانوس پر سمندر دي، ختیځ او جنوب ختیځ سواحل یې بیا پر بحر متوسط یا سپین سمندرګي دي چې بحر رومي یا بحر شامي هم ورته وایي.[۵]

**سیاسي او اقتصادي وضعیت:**

د اقتصاد له مخې اندلس پیاوړی و، زراعت، معدنیات او تجارت یې درلودل. دا هغه عوامل وو چې پر دغه مهمه جغرافیه یې نورو قوتونو ته د ور ختلو زړه ور کاوه. تر میلاد ۲۷ کاله وړاندې رومیانو د خپل مشر اوګستس په مشرۍ وکولای شو چې اندلس لاندې کړي، د میلاد په شروع کې د هغه ځای محلي اوسیدونکو رومي صبغه اخیستې وه، رومیانو د څو پیړیو لپاره دلته واک وچلاوه، اما د پنځمې میلادي پیړۍ له شروع سره چې دغې سیمې ته جرمنې او نورو قومونه راغلل لکه فنډال، الالان، سویفي، دا نو ۴۰۸م سنه وه چې دغه اشغال نورو سختو کورنیو جګړو ته لار پرانیسته او تر ډېره وخته دغو قومونو او قوط غربي جګړه مارو یو د بل وینې توی کولې. قوط اصلا له شمالي اروپا څخه راغلي دي، فنډال او نور قومونه هم د دغې سیمې اصل هستوګن نه دي، اما دوی یا د قوط د

---

۵ قادة فتح الاندلس: ۵۶/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستري قبيلې يوه بله ښنه دي چې اصل يې ممکن له قوط سره يو وي، يا هم لکه مخکې چې مو وويل له نارويې او شاوخوا سيمو دلته راغلل چې د قوطيانو له راتلو سره په جګړه اخته شول او په اخر کې يې قوط د روميانو ملاتړ هم تر لاسه کړ چې فنډال او نور قبايل يې مات کړل او د اندلس پر جزيره نما يوازې د قوطيانو پاچاهي شوه چې دوې پېړۍ يې دوام وکړ.[٦]

قوط غربيان دغه مهال په غاله(ګاله) د فرانسې جنوب کې اوسېدل چې سختو جګړو يې د الا لان او فنډال قووت ور اوبه کړ او په ۴۲۹م کې مجبور شول چې شمالي افريقا ته د سمندر له لارې وتښتي، په دې ډول قوط وتوانېدل هسپانيه ونيسي او تر دغه مهال چې لا په شمال غربي سيمو کې د سويفي پاچاهي موجوده وه پر هغې يې هم برې تر لاسه کړ.[٧]

**د قوطيانو شمېر او د مشر ټاکلو طريقه:**

که څه هم د هغه وخت په اړه د حصائيې معلومات نه شته خو له نويو مورخينو ځينو اندازه کړې ده چې د دوی شمېر له دوه لکه بيا تر څلور لکه رسېده چې د اصلي اوسېدونکو شمېر يې له شپږ ميليونه تر اووه اټکل شوی دی.

د واکدارۍ نظام يې پاچاهي او پر انتخاب ولاړ و، مشر به د نورو مشرانو او مذهبي کسانو له لوري ټاکل کېده، ځينو کسانو يې هڅه وکړه چې نظام مورثي کړي، خو دغه هڅې يې بريالۍ نه شوې، پاچا به اصل له قوط قوم سره اړه درلوده، له مشرانو څخه به و او ښه اخلاق به يې درلودل. مشر به د نورو قومي مشرانو له منځه انتخابېده اما وروسته يې عادت دا شو چې زورور به عرش د تورې په زور نيوی او پاچا به د پوځ مشر هم و.

---

[٦] دولة الاسلام في الاندلس: ١/٢٧- ٢٩.
[٧]تاريخ العرب و حضارتهم في الاندلس: ١/١٣.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچاکولای شول چې مذهبي کسان له خپلو منصبونو لرې کړي، د چارو په اړه چې يې څنګه خوښه وه هغه ډول به يې پريکړې کولې، پاچا يو مشورتي بورډ هم درلود چې د چارو په اړه يې مشورې ور کولې او خو لويه برخه واک له پاچا سره و، له دې امله نو دغه بورډ چنداني اثر نه در لود، پاچا به احکام صادرول، قوانين يې جاري کول او د مهمو امورو په اړه يې فيصلې کولې چې د مخې نيولو څوک يې نه و.

**رسمي مذهب او ژبه يې:**

د هسپانيه خلک د ورميانو تر راتلو مخکې بت پرستان وو، کله چې روميان پر دغه سيمه واکمن شول نو عيسوي مذهب يې رواج کړ چې وروسته د دغې سيمې خلک هم په عيسوي مذهب شول؛ ځکه خلک د خپل واکمن په رنګ رنګېږي او مور يادونه وکړه چې د دې سيمې خلکو د روميانو صبغه خپله کړې وه.

طليطلې يو لوی مجلس درلود چې زياتره غړي يې مذهبي کسان وو، دوی به په ځينو وختونو کې سره راټوليدل چې د هيواد د سترو قضاياؤ په اړه نظر ور کړي، د قوطيانو د واک مهال دا يو ستر ديني او سياسي قووت و. قوطيان له خپل سخت وحشيتوب سره کلک مذهب پاله هم وو چې مذهبي کسانو ته يې زيات درناوی در لود، له دې امله نو مذهبي کسانو د اشرافو په شان ژوند در لود او له خلکو يې ډېر ثروت او مالونه تر لاسه کول.[۸]

قوطيانو چې د کاتوليک عيسويانو مذهب غوره کړ دغه مجلس يوه رسمي بڼه واخيسته چې د پاچا په امر به داير کيده، لوړپوړي دولتي کسان به ورته راغونډېدل، په يوه وخت کې هم سياسي او هم ديني مجلس بلل کيده چې

---

[۸] دولة الاسلام في الاندلس: ۳۰/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احکام او قوانین به یې د ګڼو قضایاو په اړه ور کول، تر دې وروسته یې واک پراخ شو، ان د سترې محکمې بڼه یې خپله کړه، د نورو بانفوذه قومي مشرانو مجلس هم دې دیني مجلس ته ورګډ کړل شو، نو د دولت په چارو کې د نظر ورکولو ستر مجلس وګڼل شو چې د نظر ورکولو له اړخه د طلیطلې مجلس تر ټولو ستر بلل کیده.[۹]

د اندلس لویه برخه اوسیدونکي د رومیانو له راتلو سره په مسیحي دین شول، رومیان کاتولیک وو، خو غربي قوطیان په لومړي سر کې اریوسي مذهبه وو چې عیسی علیه السلام یې بشر ـ باله، تر ۳۷۷م همدغه باور دوام درلود، تر دې وروسته د ریکارید په وخت کې چې ۵۸۶م سنه کیده قوطیان هم د کاتولیک مذهب ته مایل شول. دغه یاد پاچا په دولتي کچه د یوه خاص مذهب له ملاتړه لاس واخیستل، په دې توګه ټولې کلیساوې د قوطیانو د واک مهال سره متحدې شوې او د کاتولیک مذهب له ملاتړه د پاچا تر نه ملاتړ وروسته رسمي ژبه لاتیني وټاکل شوه چې په ټولو ښارونو کې همدغه رسمي ژبه اعلان شوه.[۱۰]

**ټولنیز ژوند:**

هلته ولس درې طبقو ته ویشل شوی و: یوه د اشرافو طبقه وه، بله عامه طبقه وه او دریمه یې د غلامانو طبقه وه چې وروستۍ دوې طبقې په خپل ژوند کې ازادې نه وې، حتا د عامو خلکو څخه څوک له یوه ښاره بل ته نه شوای نقلیدلای که تللی وای، بیرته یې اصل ښار ته واپس کاوه. د غلامانو خو هیڅ هم خپل نه وو، دوی په ټوله معنا د بل لپاره کار کاوه او خپل ژوند کې یې هیڅ نه درلودل. د یهودو ښه لویه برخه هم په طلیطله او شاوخوا سیمو کې اوسیدل چې هغوی هم تر غلامانو

---

[۹] تاریخ العرب وحضارتهم في الاندلس: ۱۴/۱.
[۱۰] تاریخ العرب وحضارتهم في الاندلس: ۱۷/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کم ژوند نه در لود، ځکه دوی له عام ولس سره مذهبي اختلاف در لود چې د دې اختلاف له امله هغوی په کرکه ورته کتل او د غلامانو په شان ژوند یې ورسره کاوه، که څه هم یهودو اشرافو او مخورو کورنیو ته رشوتونه هم ور کول اما له دې سره بیا هم په ښه ژوند کې نه وو او نه دا کار د ټولو یهودو په وس پوره و. یوازې اشراف او د واک خلکو ښه ژوند در لود نور خلک ټول د وسیلې په توګه د اشرافو او واکدارو لپاره ژوندي وو چې د ژوند هر څه یې په هر ګړي کې د بل لپاره کیدل او د واک بې انصافه واکدارانو به تل خپل بوج پر بې وزلو او کمزورو ور اچاوه چې د هغوی د واک ژرنده په وچلېږي.[۱۱]

**اندلس ته د مسلمانانو د ورتلو لاملونه:**

د عربو له جزیرې څخه د اسلام تر خپریدو وروسته مسلمانان په لنډ وخت کې د افریقا تر بیدیا ورسیدل چې دلته د اسلامي لښکرو تر فراغت وروسته د ولید بن عبد الملک په وخت کې چې زیاتره مسلمانان له خپل منځي اختلافونو خلاص شوي وو او په ختیځ و لویدیځ کې د مسلمانانو لښکرو پر مختګونه کول، د اندلس لور ته هم په دې وخت کې اسلامي لښکرو سر ور ښکاره کړ. د عواملو په اړه یې ګڼ بحثونه شوي دي چې مسلمانان ولې اړ شول له افریقا څخه تر سمندر بلې غاړې ته یوې بلې وچې ته ور تیر شي او د خپل بخت ستوری پکې وازمویي؟

د تاریخ العرب و حضارتهم في الاندلس لیکوال پر دې خبره زور راوړی چې مسلمانان یوازې د الهي پیغام د رسولو او نورو قومونو ته د اسلامي اخلاقو او ارزښتونو د ښودلو لپاره هم دلته راغلي وو او هم د نړۍ نورو برخو ته. ده په کلکه دا خبره رد کړې ده چې مسلمانان دې د مادیاتو تر لاسه کولو لپاره هلته تللي وي

---

[۱۱] تاریخ العرب وحضارتهم في الاندلس: ۱/ ۱۱- ۲۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا دې هم د پاچاهي و امپراتوري د پراخولو هوس تر دې ځايه رسولي وي. نوموړي ليکوال د هغو رواياتو ضعف ته هم اشاره کړې ده چې جوليان د سبته والي د خپلې لور د عزت په خاطر د هغه وخت له پاچا لذريق سره خپه شوی و، يا هم لذريق چې د انقلاب له لارې واک نيولی و، جوليان له پخواني حاکم غيطشه سره ښې اړيکې لرلې له دې امله يې غوښتل چې مسلمانان پر اندلس ور وخېژي نو دوی ته يې دعوت ور کړ، يا هم د د غيطشه ملاتړو له مسلمانانو وغوښتل چې لذريق له قدرته کښته کړي. دا ټول روايات نوموړي ليکوال ضعيف ګڼلي دي. ده يادونه کړې ده چې موسی بن نصير له قيروانه يوه حمله پر سبته وکړه او له جوليان(يا يوليان) سره يې د سولې تړون وکړ چې له مخې يې هغه پر سبته والي پاته شو او مسلمانان قيروان ته ساتنه شول. نوموړی د بحث په اوږدو کې يوځای داسې کاږي:

لا سيما أننا نعلم أن دوافع العرب والمسلمين، والتي ذكرناها في أول الفصل، كانت قوية للفتح والتحرير، فلم يكونوا بحاجة لمن يحثهم على هذا الواجب المقدس، بل هم الذين اتخذوا بادرة الفتح بقيادة قائدهم الشجاع طارق بن زياد.[۱۲]

ژباړه: په خاص ډول چې په لومړي څپرکي کې موږ د عربو او مسلمانانو د جګړې عوامل ياد کړل چې د فتحې او ازادۍ لپاره هغوی خپل اسباب درلودل، دې ته يې اړتيا نه در لوده چې بل څوک يې دې مقدس مسووليت ته وهڅوي، بلکې دوی د خپل غيرتي مشر په قيادت خپله د فتحې لپاره وړاندې کيدل.

---

[۱۲] تاريخ العرب وحضارتهم في الأندلس (ص: ۲۷)، البيان المغرب في اخبار الاندلس والمغرب: ۵/۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پر اندلس د مسلمانانو برید:**

لومړی په رمضان ۹۱ هـ کې چې له ۷۱۰ م سره یې سمون در لود لـه ۴۰۰ یـا ۵۰۰ مجاهدینو جوړ یوه کنډک د ابوزرعه طریف بن مالك په مشري پر اندلس بریـد وکړ، دا یـو لـوی جنګـي بریـد نـه و، بلکـې یـوه هڅـه وه چـې مسـلمانانو خپـل معلومات غښتلي کول. دوی پر څلورو کښتیو د اندلس لور ته لـه افریقـا واوښـتل چې هغه کښتی هم ورته جولیان برابرې کړې وې، پر کومه جزیره چې کښته شول هغه د پالوماس په نوم یادیده چې وروسته د طریف په نوم مشهوره شـوه. طریـف په جنوب برخه کې بریالي عملیات وکړل، له خاص مقاومت سره مخ نه شـو او د غنایمو له تر لاسه کولو وروسته بیرته بریالی افریقا ته راسـتون شـو.[۱۳] د دغـه ډول برید لارښوونه خلیفه ولید بن عبد الملك ورته کړې وه.

تر دې بریالیو عملیاتو او مهمو معلوماتو وروسته طارق بن زیـاد[۱۴] پـه خپلـه د تلـو تکل وکړ، په دې برید کې له هغه سره ۱۲ زره مجاهدین ملګري وو چـې زیـاترو یې له بربر قوم سره اړه درلوده، ځکه دا مهال موسی بن نصیر دلتـه موجـود نـه و، عرب مجاهدین له هغه سره قیروان ته تللي وو او زیاتره پاته کسان چې د طارق بن زیاد تر مشري لاندې یې فعالیتونه کول؛ بربریان وو. ځینـې مـورخین پـه دې انـد دي چې د طارق لښکر لومړی اووه زر و، وروسته موسی بن نصیر ورته پنځـه زره نور اضافي کسان ولیږل چې شمېر یې ۱۲ زرو ته ورسید، اما سهي قول دادی چې له لومړي سره هغه تر خپله قومانده لاندې ټول کسان بیولي وو چې همدې ۱۲زرو ته یې شمېر رسیده. ابن اثیر هم د ۱۲ زره کسانو قول یاد کړی دی.

---

[۱۳] تاریخ العرب... : ۲۸.

[۱۴] د طارق د نسب سلسله: طارق بن زیاد بن عبد الله بن رفهو بن ورفجوم بن ینزغاسن بن ولهاص بن یطوفت بن نفزاو. البیان المغرب في أخبار الأندلس والمغرب (۲/ ۵)

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تاریخي سرچینو معلومېږي چې طارق به له سبته د اندلس لور ته تیر شوی وي، ځکه د هغه له لښکر چې پر کومو کښتیو تیریده د هغوی یوه برخه ورتـه جولیـان برابرې کړې وې که څه هم له طارق سره هغه عربي کښتی هم وې چې په تـونس کې جوړېدې او په طنجه کې ورسره ولاړې وې. ده غوښتل په ټوله معنا له سمندر څخه پټ تیر شي چې څوک پرې خبر نه شي. د سبته مقابل لور ته بـل سـاحل د جزیره خضراء په نوم و چې ښایي طارق دلته خپل کسان کښته کړي وای، اما هلته ځینو کسانو د هغه د مخې نیولې هڅه وکړه چې بیرته یې په شپه کې خپـل لـوری بدل کړ، یوه ډله اس سپاره یې پر هغه بله غاړه کښته کړل چې له کښـتیو د پـوځ د کښته کیدو مهال د هغوی امنیت خوندي کړي، په شپه کې کښـتی لـه یـوه لـوري ډکېدلې او بل لور ته یې سپاهیان وړل چې ښایي تر یـوه شـپه یـې زیـات وخـت نیولی وي.

د پوځ تر تیرولو وروسته یوه کیسه چې ډېـره مشـهوره ده وایـي، طـارق رحمـه الله خپلې کښتی وسوځلې او پوځ ته یې خطبه ور کړه چې اې خلکو یوه لور تـه مـو سمندر دی او بل ته دښمن نو د تیښتې لار نه شته... اما دا کیسه لـه څـو اړخونـو کمزورې ښکاري:

یو دا چې باوري تاریخي ماخذونو د دې کار یادونه نه ده کـړې، نـو پـر کمـزورو تاریخي سرچینو باور نه دی په کار، که دا کار واقعا شوی وای، نو باوري تاریخي سرچینو یې حتمي یادونه کوله، لکن په تـاریخونو کـې دغـه اسـطوره پـه پنځمـه هجري پیړۍ کې مشهوره شوه چې د اندلس له فتحې تر درې پیړۍ زیـاتې وتلـې وې او دا خپله شکونو ته لار پرانیزي.

دویم دا چې د کښتیو سوځول که د هغه اراده وای، نو حتما یې باید له موسی بن نصیر یا خلیفه څخه اجازه اخیستې وای، ځکه جولیان د موسی بن نصیر متحد و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له هغه سره يې د سولې ترون در لود، که يې د هغه کښتۍ سوځولای نو حتمي خبره ده چې جوليان به موسی ته شکايت کاوه او داسې هيڅ شکايت تاريخونو نه دی نقل کړی.

دريم دا چې که کښتۍ يې سوځولای نو د تونس جوړې کښتۍ د مسلمانانو د بيت المال وې چې په يوازې سر طارق رحمه الله دا کار نه شوای کولای، حتما يې بايد هم له خپلو لوړپوړو چارواکو اجازه غوښتې وای او هم يې له علماؤ پوښتنه کړې وای چې د دې بيت المال د کښتيو سوځول شرعا څنگه دي؟

څلورم دا چې حتمي نه ده دغه حمله دې بريالۍ شوې وای، که طارق تر جنگ پيلولو مخکې داسې يو گام اخيستی وای نو دا ښايي د مسلمانانو د يومخيزې تباهۍ سبب شوی وای چې گنا به يې د طارق پر غاړه وه او هغه د يوه مسلمان په توگه دومره لويي اخروي او دنيوي مسووليت ته ولې ځان ور کړی وای؟ نه عقلا دا سره لگېږي ځکه مسلمانانو راپارونې ته اړتيا نه در لوده، هغوی چا په زور دلته نه وه راوستي، بلکې د جهاد جذبې دلته راوستلي وو، نو دې ته اړتيا نه وه چې هغوی بيا بيا راوپارول شي او د جهاد پر ميدان په زور ور ځغلول شي، هغوی که د تيښتې لار درلودای يا نه، د جهاد له ميدانه يې تيښته نه کوله تر دې لويي لښکرونه د مسلمانانو د ډېرو وړو لښکرونو په وړاندې په گونډو شوي وو لکه د فارس او روم ستر لښکرونه، نو دلته د کښتيو د سوځولو اړتيا نه ليدل کيده.

پنځم دا چې غالبا دغه اوازه به د اندلس خلکو خپره کړې وي، ځکه د هغوی لښکر يوه نسبتا واړه لښکر مات کړ، نو دوی به د ځان خلاصولو لپاره اوازه گډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وي چې هغوی د تیښتې لار پر ځان بنده کړې وه نو په وچ زور د ځان له خلاصولو پرته یې بله لار نه وه، ځکه یې سخت جنګ وکړ او میدان یې وګاټه.[١٥]

طارق چې د غره پر کومه برخه کښته شو د هغه ځای نوم کالپي و، خو له دې ورځې وروسته د جبل طارق په نوم تر ننه یادېږي.

د مورخینو ترمنځ په دې کې اختلاف دی چې په کومه کال دغه حمله ترسره شوه؟ صحت ته نژدې قول دادی چې په رجب ۹۲ کې وه له ۷۱۱ میلادي سره یې سرخوري.د ده دغه برید په پسرلي کې و چې د برید لپاره دغه موسم د ښې هوا له امله بیخي مناسب معلومېږي.

طارق په همدې سیمه کې څو شپې پاته شو، خضراء جزیره یې ونیوه، شاوخوا سیمې یې تر کنټرول لاندې راوستې. د جبل طارق د غره شمال پلو یوه کلا وه چې طارق د عبد الملك بن عامر المعافري په مشري یوه دسته ور ولېږله او د قرطانجه په نوم دغه کلا یې هم ونیوه. تر دې وروسته له تنګۍ سره ټولې منښتې سیمې د مسلمانانو په لاس کې شوې، عبد الملك المعافري د جزیرة خضراء او ورسره شاوخوا سیمو د امنیت ساتلو مسوولیت ومانه چې جولیان یې مرسته کوله، په دې توګه د مسلمانانو شا خوندي شوه او له افریقا سره یې اړیکې ساتل هم خوندي کړل.

د اندلس له مشر لذریق(ځینو کتابونو یې نوم ردریك یاد کړی دی، رذریق هم راغلی او د واقدي له خوا اذرینوق نومول شوی دی[١٦]) سره تر مخامختیا دوه نیمې میاشتې وړاندې طارق د هغه له لوري له وړو وړو مقاومتونو سره مخ شو، لذریق لومړی ښایي فکر کړی وي چې د هغه قومندانان به مسلمانان شاتګ ته اړ کړي،

---

[١٥] دولة الاسلام في الاندلس: ۴۸/۱، تاریخ العرب وحضارتهم في الاندلس.
[١٦] دولة الاسلام في الاندلس: ۴۱/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل ورور زوی بنج(Banj) یې راولېږه چې په جګړه کې ووژل شو، د قوطیانو له قومه د تدمیر په نوم قومندان یې راولېږه، هغه چې د مسلمانانو قووت ولید لذریق ته یې د فوري مرستې احوال ور کړ او د لوی ګواښ په اړه یې خبر ور کړ.

لذریق په دې وخت کې د هیواد شمال ختیځه برخه کې مصروف و، په هیواد کې یې هلته او دلته لا شورشونه نه وه غلي کړي، له دې امله یې د هیواد وضعیت د امنیت اړخه چندان ښه نه و، د مسلمانانو د راتګ له خبر سره سم هغه د مخامخ ټکر لپاره تیاري کوله، په دې وخت کې یې هڅه وکړه چې د غیطشه له کورنۍ سره جوړه وکړي او د مسلمانانو مقابلې ته اندلسیان یو صف کړي. د مسلمانانو تاریخونه د هغه د لښکر په اړه له مبالغې ډک دي، څوک یې د لښکر شمېر ۴۰زره بولي او نور روایات یې ان تر یولک ښیي، خو د هغه د هیواد شرایطو ته په کتو ویل کیدای شي چې تر مسلمانانو به زیات وو اما په دومره لویه پیمانه هم نه.

دواړه لښکرې د شذونه په سیمه کې سره مخ شوې چې د هسپانیې جنوب لویدیځه برخه کېږي، اما د جګړې دقیق میدان معلوم نه دی، هسپانوی مستشرق سافیډرا وایي چې دوې جګړې شوې دي: یوه د شذونه ښار ته څېرمه شوې ده چې د رتین غره او لاخاندا بحیرې په منځ کې واقع شوې ده، دویمه هغه مهال وشوه چې لذریق تیښته وکړه د سلمنقه ښار ته نژدې بله جګړه وشوه او دی پکې ووژل شو همدلته نژدې ښخ کړل شو. اما له ده سره نور مستشرقین یوه خوله نه دي، هغوی د عربي مورخانو په شان وایي چې یوه جګړه پیښه شوې ده، ددوی په اند چې دا جګړه د بکه یا لکه له وادي سره نژدې په شذونه سیمه کې وشوه چې لذریق پکې قتل او لښکر یې ماته وخوړه.

ځینې عرب مورخین وایي چې لذریق تیښته وکړه د وادي طین په نوم یوه نهر کې غرق شو، دوکتور حسین مؤنس په دې باور دی چې د دغه طین او هغه نهر ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشابهت لیدل کېږي چې له شقوره نهر څخه بیل شوی دی او نوم یې Guadalentin دی، دا نهر د مرسیې په ولایت کې دی چې د هسپانیې مشرقي برخه کېږي، اما دا احتمال د واټن د لیریوالي له امله ډېر زیات کمزوری دی، ځکه جنګ په جنوب لویدیځه برخه کې پیښ شو او دغه سیمه په ختیځه برخه کې ده چې احتمال یې بیخي کم دی.

دغې جګړه اووه ورځې دوام در لود، د ۹۲ کال د رمضان له ۲۸ تاریخه پیل شوې د شوال تر ۵ نیټې یې دوام وکړ، دا یوه ډېره پراخه جګړه وه چې خورا زیاتې سیمې یې رانغاړلې. په تاریخ کې په ګڼو نومونو یاده شوې ده لکه: معرکة البحیره، وادي بکه،وادي البرباط، شریش، سواني او سواقي. د دوکتور احمد مختار العبادي په شان یو خاص ځای د دې جګړې لپاره ټاکل ګران کار دی، نو احتمال زیات لري چې د جګړې په دې ورځو کې دې په هغو ټولو ځایونو کې زیات یا کم جنګونه شوي وي چې مورخانو یې یادونه کړې ده. البته دا د شذونه جګړه ده چې د هغې پر لویه او پراخه سیمه یې اثر کړی او سیوری یې پر غوړلی و.

د قوطیانو لښکر د مسلمانانو په نسبت ډېر لوی و، اما له دې سره یې ماته وخوړه؛ دلته ځیني اسباب شته چې د قوطیان د بخت ستوری یې له ځلیدا واچاوه او پر اندلس د مسلمانانو دوره راغله. دا خبره په تاریخي لحاظ ثابته ده چې لذریق د واک پر سر نور سیالان هم در لودل په خاص ډول د غیطشه یادونه ډېری مورخینو کړې ده. مورخین وایي چې لذریق د مسلمانانو د حملې مهال په شمالي برخه کې بوخت و، هغه له هماغه ځایه یې هڅې پیل کړې چې خپل مخالفان هم د مسلمانانو د یوه پردي قووت خلاف یو کړي، تر ډېره حده هغه په دې هڅو کې بریالی هم شو، خورا زیات امیران، دیني کسان او خپل مخالف کسان یې د مسلمانانو په مقابل کې سره یو کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اما د ده دغه کار که یوه لور ته د دوی صف ور لوی کړ، خو بل لور ته یې د جګړې پر میدان تاوان ورته وکړ، هغه مخالف امیران او له لذریق څخه بد وړونکي مشرانو د جنګ پر ډګر اخلاص ونه کړ او د جګړې په سختو شیبو کې یې لذریق د مسلمانانو رحم ته خوشي کړ او دوی هر یوه د ځان ژغورنې لار ونیوه چې د هغوی خپل منځي اختلاف د دومره لوی لښکر د ماتې سبب شو چې همدغه معامله بیا له مسلمانانو سره هغه مهال بیرته وشوه چې دوی اتحاد ختم کړ او د یوه بل وینې توی کول یې پیل کړل نو د هسپانویانو یوه لښکر دوی په مخه کړل او د اندلس برخلیک یې ور بدل کړل.[۱۷]

غربي قوط ماته وخوړه، لښکر یې سره ګډوډ شو او درووند مالي و ځاني زیان یې اوچت کړ، د لذریق په اړه دقیق اطلاعات نه شته خو د مسلمانانو هم درې زره کسان په شهادت ورسیدل. طارق سمدستي د فراري دښمن په تعقیب پسې شو، د شذونه ښار یې ونیوی، د وخت له ضیع کیدو پرته یې د استجه ښار ته مخه کړه چې دلته د لښکر پاتي شونې را ټول شوي وو او دا ښار یې محاصره کړ.

طارق چې د قوط د قووت په اوبه کیدو باوري شو نو د اندلس پر مرکز طلیطله یې د برید پلان جوړ، هغه مهال چې طارق د طلیطلې خواته روان و، د مغیث رومي په نوم یې یوه مجاهد ته اووه سوه کسان سپاره مجاهدین ور کړل او له استجه یې د قرطبې لور ته ولیږه او په خپله یې پر طلیطله برید وکړ.

مغیث ښار ته نژدې واړول او له هغه ځای یې هڅه وکړه چې ښار ته لار پیدا کړي، اخر په دیوال کې د سوریانو له امله مسلمانان د ښار پر فتحه کولو وتوانیدل او د ښار حاکم له پوځ سره یوځای یوې کلیسا ته پنا یووړه چې له ښاره بهر وه او د شنت اجلح په نوم یادیده، مسلمانانو هغوی محاصره کړل، حاکم چې له ځان پر

[۱۷] دولة الاسلام في الاندلس: ۴۵/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفاع ونه توانید نو طلیطلې ته یې د تیښتې هڅه وکړه خو د مغیث په لاس ورغی او پاته پوخ له یوې مخې له منځه یووړل شو.[۱۸]

طارق د اندلس پلازمینې ته ورغی خو له پوځه خالي وه، حاکم یې یوه بل ښار ته تیښته کړې وه او ښار کې یوازې یهود پاته وو چې مسلمانانو په نورو ځایونو کې هم ښه معامله ورسره کړې وه او دوی هم ژمنه کوله چې له ښارونو به له مسلمانانو سره یوځای دفاع کوي ځکه دوی له پخواني حاکم څخه ښې خاطرې نه در لودې، د څو ښارونو تر فتحې وروسته طارق د ژمي تیرولو لپاره بیرته طلیطلې راغی چې ځینې مورخین وایي نه په ژمي کې یې هم فتوحاتو ته دوام ور کړ البته د هغه ځای هوا ته په کتو سخته معلومېږي.

د ۹۳ کال په رمضان کې موسی بن نصیر هم له خپل ۱۸ زره کسیز لښکر سره اندلس ته راغی، ځکه له طارق سره لښکر کم راغلی و او یو څه کسان یې زخمیان او شهیدان هم شول، نو د دې لپاره چې د اندلس فتح ژر بشپړه شي موسی رحمه الله هم له ستر عربي لښکر سره د طارق تر تنګي راتیر شو او له خپل لښکر څخه ۲۰ ډلې جوړې کړې چې ګڼو ساحو ته یې ولېږلې، دوې ډلې یې له ځان سره وساتلې او یوه بله ډله یې خپل زوی عبد العزیز ته و رکړه، په ځینو ځایونو کې مقاومت وشو په ځینو نورو کې دښمن فرار وکړ، په ۹۴ کې کې موسی طلیطلې ته راغی طارق یې هرکلي ته ور ووت، له دې ځایه یې خلیفه ولید بن عبدالملك ته استازی ولېږه او په پسرلي کې دواړه مشران یوځل بیا د نویو بریاو په نیت وخوځېدل چې ان طارق د فرانسې تر البرت غرونو ورسید، ځینې تاریخي

---

[۱۸] البیان المغرب في اخبار الاندلس والمغرب: ۲/۱۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



روايات خو لا دا ادعا هم کوي چې طارق فرانسې ته هم ننوت اما دا خبره يې لـه کوم تاريخي ثبوت پرته د منلو وړ نه ده.[۱۹]

بل لور ته د موسی زوی عبد العزيز هم په دې فتوحاتو کې خپله ونډه واخيسته او ګڼ ښارونه يې ونيول، په ځينو ښارونو کـې يـې لـه قومنـدان تـدمير سره د کلنـۍ جزيې پر سر سوله وکړه، دغه خبرونه چې په دمشق کې خليفه ته ورسيدل هغـه د مسلمانانو پر پوځ وډار شو او فکر يې وکړ چې دومره زيات د دښمن په سيمه کې تګ له خطرونو خالي نه وي، نو يې موسی ته استازی ولېږه چې نـور پرمختـګ ودروي او ده ته ورشي، خو په ورتګ کې تر ليږ ځنـډ وروسـته يـې بـل اسـتازی ولېږه ا د سمدستي ورتګ غوښتنه يې کړې وه، اشبيليه يې جبل طارق او تنګي ته د نژدېوالي له امله د اندلس پلازمينه وټاکله.

موسی د ۹۵هـ په ذي الحجه کې له اندلسه روان شو، خورا زيـاتې شـمير غنـايم، بنديان او ګران بيه هديې ورسره وې، د سرچينو په وينا چې فلسـطين تـه د ورتلـو مهال د خليفه ورور امير سليمان بن عبدالملک ترې وغوښتل چې يو څـه وخـت انتظار وکړي څو خليفه وفات شي او دا هر څه د هغه په حساب کـې شـمار شي، نو به د فتحې شرف ده ته وګرزي، خو موسی ورسره ونه منله او دمشق ته يې خپل سفر جاري وساته، خو خليفه د امر د نه پر ځای کولو له امله ورته غوسه و، په لنډ وخت کې خليفه وفات او ځای يې سليمان ونيوی چې هغه موسی بن نصير تـه د نامعلومو عواملو له امله درنه سزا ور کړه البته وروسته يې اړيکې سره ښـې شـوې، موسی په ۹۷ يا ۹۸ هـ کې وفات شو او دمشق ته تر راتلو وروسته د طارق بن زياد

---

[۱۹] تاريخ العرب...: ۲۸ تر ۴۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیڅ درک نه دی لګیدلی چې هغه پر کومه ولاړ یا یې کومه دنده واخیسته، خو دې دواړو مشرانو په څلور کاله کې هغه څه وکړل چې ټول امت یې حیران کړ.[۲۰]

**په اندلس کې د مسلمانانو لومړنی اشتباه:**

موسی د خلیفه د غوښتلو له کبله ټوله هسپانیه فتحه نه کړه، زوی یې لنډ وخت دلته حکومت وکړ او شمالي ختیځې او لویدیځې سیمې یې تر کامل کنټرول لاندې نه وې، د والیانو یو په بل پسې راتګ د دې سبب شو چې په شمال لویدیځ کې د جلیقیه په نوم سیمه چې یاغیانو پنا پکې اخیستې وه او دلته یې مسلمانانو ته سرخوږی جوړاوه خاصه توجو ونه وکړي، دا سیمه ډېره ویرونکې او غرنی وه چې د مسلمانانو لښکرو زړه نه ښه کاوه چې پکې ورننه شي، عربي تاریخونه د بلای په نوم د یوه کس نوم یادوي چې د دې باغیانو مشري یې کوله او په دې سیمه کې یې خپل مرکز جوړ کړی و. دغه کسان په لومړي سر کې لیږ و، د وخت په تیریدو سره یې شمېر زیاتیده او نور اندلس ته یې خطر هم ډېریده چې اخر هم اندلس ته له دې څایه خطر متوجې شو او مسلمانانو ګټلې سیمه بیرته له لاسه ور کړه.

په اندلس کې د عنبسه بن سُحیم الکلبي او عقبه بن الحجاج السلولي د والایتونو مهال هغوی دغه خطر ته متوجې شول، پر دې سیمه یې بریدونه وکړل او کوښښ یې کاوه چې د باغیانو له وجوده یې پاکه کړي مګر په دې کار کې بریالي نه شول.

د البرت غرونو یا غربي ساحل لورته د کنتبریه په غرونو کې یوه بله ډله هم وه چې په اندلس کې د مسلمانانو له شتون سره مخالف وو، په پیل کې یې د دغو غرونو

---

[۲۰] یاد کتاب: ۴۳تر ۴۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شرقي برخه کې خپل تجمعات متمرکز کړل، په دغه لـور کـې يـې د مشرـنوم عربي تاريخونو بطره ياد کړی دی چې د حکومـت نـوم يـې کنتبريـه راوړی. پـه لومړي سر کې يې خاص اهميت نه در لود، خو وروسته يې خپل ارزښت زيـات کړ، د بطره زوی الفونسو اول چې کله د بلای له لور سره واده وکړ نـو پـه انـدلس کې د مسلمانانو لپاره د ستر خطر بنسټ کيښودل شو. د يوسف بن عبـد الـرحمن الفهري د ولايت مهال د بشکنس سيمې مقاومت ډېر شوی و، ممکن پـه جليقيـه کې د بلای د ډلې مقاومت پر نورو سيمو باندې هم اثر کړی وي چې هغوی هـم خپل مقاومت ته زور ور کړ.

د خليفه عمر بن عبد العزيز رحمه الله په زمانه کې سمح بن مالك خولاني(۱۰۰تر ۱۰۲ هـ) د اندلس والي شو، هغه په اندلس کې د مسلمانانو قواوې متحدې کـړې او پر نژدې ياغي حکومتونو يې حمله وکړه چې په لومړي سر کې بريالی و، خو د طولوشه ښار په محاصره کې دښمن پر هغه له بهـره بريـد وکـړ او د ده پـه شـمول زيات مسلمانان هم شهيدان شول، عبد الرحمن الغافقي په تکليف وتوانيده چې د مسلمانانو د لښکر پاته کسان اربونه ته ورسوي. دغې ماتې د نورو سيمو خلکو ته هم زړه ور کړ چې د مسلمانانو پر ضـد سر اوچـت کـړي او کـړي تړونونـه مـات کړي.

يو بل مشکل چې مسلمانانو په نورو سيمو کې هم ورسره مخ شول، هغـه د عـربي قبيلو خپل منځي اختلافات وو چې نه يوازې يې په اندلس کې د مسلمانانو قووت اوبه کړ بلکې په ډېری هغو سيمو کې چې د مسلمانانو اولنيو کسانو فتحه کړې وې دوی په همدې ډول بيرته وبايللې.[۲۱]

---

[۲۱] تاريخ العرب...: له ۴۷ تر ۵۲، دولة الاسلام...: ۵۵/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بلاط الشهداء ستره جګړه او د مسلمانانو پریکنده ماتې:**

د عبد الرحمن الغافقي په مشري د مسلمانانو یو ستر لښکر چې شمېر یې دقیق معلوم نه دی خو په تخمیني توګه شاوخوا اویا یا اتیا زرو ته رسېږي، پر فرانسه برید وکړ. په دې وخت کې فرانسویانو د واک پر سره شخړه وه، د کارل مارتل په نوم یوه کس یې زیاتره سیمې نیولې وې او ځان یې د واک وړ باله او جنوب کې یې الدوق اودو بله پاچاهي جوړه کړې وه چې د مسلمانانو له برید سره مخ شو. هغه مهال چې د فرانسې جنوبي سیمه د مسلمانانو تر سخت ګواښ لاندې وه او د الدوق پاچاهي مسلمانانو لاندې کوله کارل مارتل د مسلمانانو د ملاقات لپاره په چمتوالي بوخت و.

د عبد الرحمن په مشري د مسلمانانو لښکرو د الدوق پاچاهي دړې وړې کړه او د هغه لښکرې یې سره وپاشلې، ټوله پاچاهي یې د مسلمانانو په لاس کې پریښوده او د خپل مخالف پاچا کارل مارتل لمنې ته یې ځان ور واچاوه چې د مسلمانانو له چلاخې یې خوندي کړي. کارل مارتل چې وړاندې یې لا د مسلمانانو مقابلې ته ځان چمتو کاوه دا یې مناسب وخت وباله.

مسلمانان د مروج نهر اللوار جنوبي برخې ته رسیدلي وو چې درې ښاخونه یې سره بیلیدل همدلته د فرانسې تازه دمه لښکرې د هغوې مقابلې ته راوړاندې شوې. مسلمانان یوه لور ته له ډېره وخته په جګړه جګړه تر دې ځایه راغلي وو، بل لور ته یې د فرانسې د دې تازه دمه ځواک هیڅ اندازه نه وه لګولې، لوار ته په راتلو عبد الرحمن الغافقي غوښتل چې تر سیند ورت تیر شي او پر هغوی برید وکړي چې د کارل مارتل له ستر سپاره لښکر سره مخ شو له دې امله اړ شو چې د تور او بواتییه ښارونو ترمنځ پرتې سیمې ته را شاته شي او کارل د تور ښار له غربي لوري پر لوار لښکر راتیر کړ او مسلمانانو ته یې په څو کیلو مترۍ کې واړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو له ستړیا او پردي وطن سره یو بل مشکل د هغو غنیمتونو و چې دوی په جنوبي فرانسه کې تر لاسه کړي وو او په دې سره یې ځانونو ته نه یوازې د حمل ونقل مهال ستوماني جوړه کړې وه، بلکې د ساتنې له امله یې پریشانه هم وو چې لښکر به هر وخت د دې غنایمو ساتنه کوله. له بله پلوه د مسلمانانو شمېر هم تر خپل لومړي شمېر کم شوی وو، ځکه چې د شهیدانو او زخمیانو ترڅنګ یې ځینې ډلې په نیول شویو ښارونو کې د ساتنې لپاره پرې ایښې وې.

د ۱۱۴هـ د شعبان په وروستیو کې چې د ۷۳۲م د اکتوبر ۱۲ یا ۱۳ نیټه کېده د دواړو لښکرو ترمنځ وړې وړې نیښتې پیل شوې چې اووه یا اته ورځې همدې ډول جګړې دوام در لود او په نهمه ورځ عمومي جګړه ونښته، ټوله ورځ جګړه وشوه او د شپې په داخلیدو هم ونه دریده، د سهار په راختو بیا جګړه پیل شوه، نژدې وه چې فرانسویان په جګړه کې ماته وخوري خو په دې وخت کې یوې اوازې د مسلمانانو صفونه او لیکې سره ګډوډې کړې، یو ناڅاپه اوازه شوه چې د فرانسویانو یوه ډله د غنایمو معسکر ته ننوتې ده او په دې سره د لومړیو لیکو لویه برخه مجاهدین د غنایمو د ساتنې لپاره د شا صفونو ته ولاړل، دې ګډوډۍ د مسلمانانو حالت بدل کړ او عبد الرحمن د نظم د برقراره کولو لپاره دلته او هلته منډې وهلې چې د دښمن یو غشی پر برابر شو او د جنګ په میدان کې له اسه ولوید او شهید شو. په دې سره د مسلمانانو په لښکر کې ویره خپره شوه او د لښکر نظم سره خراب شو، ورسره هممهاله دښمن هم فشار زیات کړ او زیات شمېر مسلمانان یې شهیدان کړل، له دې سره مسلمانانو مقاومت وکړ څو د شپې تیاره خپره شوه، دواړه لښکر یو له بل سره بیل شول چې د اکتوبر ۲۱ تاریخ او د روژې لومړۍ لسیزه پیل شوې وه. د مسلمانانو مشرانو تر خپل منځي مشورې وروسته وپېیله چې د بریا چانس مو تیر شو، نو ځکه یې په شپه کې شاتګ وکړ، خپل مرکز یې همداسې له غنایمو ډک دښمن ته پرېښود او دوی خپل شا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمو ته را شاته شول. سهار کارل او پخواني دښمن خو اوسني دوست اودو د مسلمانانو په معسکر کې خاموشي حس کړه، په ډېر احتیاط ورته را مخته شول چې یوازې ځینې زخمیان یې پیدا کړل، د هغوی تر وژلو وروسته یې غنایم واخیستل او د مسلمانانو د تعقیب پر ځای یې همدا بریا کافي وبلله او بیرته د خپل مرکز لور ته ستانه شول.

دا چې په دې جګړه کې څومره مسلمانان او څومره یې د مقابل لوري کسان وژل شوي دي؟ دقیقه نه شي معلومیدای، البته د جګړې شدت او زیاتې مودې ته په کتو ویلای شو چې مړي به زیات شوي وي او ممکن د مسلمانانو ځاني زیان ځکه زیات وي چې د مشر په شهادت یې نظم خراب شو او په عینې حال کې یې مورال هم د پخوا په شان پاته نه شو، له دې سره دښمن د هغوی په دې حالت پوه شو او فشار یې پر زیات کړ چې په دې وخت کې د مسلمانانو ګڼوډې د هغوی زیان زیات کړ. دلته د مسلمانانو او غربیانو روایات دي چې یو یې هم له اعتدال څخه کار نه اخلي، د غربیانو ځینو روایاتو د مسلمانانو د مړو شمېر ۷۵۳۰۰ کسان ښودلی دی په داسې حال کې چې د مقابل لوري زیان یې یوازې ۱۵۰۰ ښودلی.

دا حتمي خبره ده چې د مسلمانانو شهیدان به زیات شوي وي، مګر په هغه کچه نه دي شوي چې ځینې تاریخونو یې یادونه کړې ده. دلیل یې خپله د همدې جنګ له جریانه تر لاسه کیدلای شي، مسلمانانو په هغه ورځ چې خپل مشر یې شهید شو بیا هم تر ماښامه یې مقابله وکړه او د شپې په تیاره کې یې لښکر شاته کړ، دویم دا چې دښمن د هغوی په تعقیب پسې سهار نه دی ورغلی، که د مسلمانانو قووت تر هغه اندازې کم شوی وای چې ځینو تاریخونو یې یادونه کړې ده نو د یو مخیزې له منځه وړنې لپاره یې دښمن ولې د تعقیب نه کاوه؟ بسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ د یوه لوی لښکر مخه نیول او بیا یې په تعقیب پسې نه ورتګ خپله د دې دلیل دی چې زیات مسلمانان شهیدان شوي دي مګر د لښکر لویه برخه بیا هم موجوده وه چې د ځان ساتنې لپاره یې هر کار کولای شوای، له دې امله دښمن د جنګ له میدانه د مسلمانانو شاتګ بس وباله او په تعقیب پسې یې نه دي ورغلي.[۲۲] دا یقیني خبره ده چې که په دې جګړه کې مسلمانانو ماته نه وای خوړلې نو د اروپا لویه برخه به د مسلمانانو تر سلطې لاندې راتله خو دغې جګړې د اروپا برخلیک بدل کړ او په دې خبره اروپايي مورخین هم اقرار کوي.

**د اندلس پر خاوره اموي خلافت:**

تر هغه وروسته چې په اسیا کې د امویانو خلافت د عباسیانو په لاس په **۱۳۲هـ** کې رانسکور شو، د هشام بن عبد الملك یو لمسی عبد الرحمن بن معاویه بن هشام الداخل صقر قریش له اسیا تیښته وکړه او اروپا ته په تلو یې هلته د امویانو خلافت جوړ کړ. پر دغه سیمه به مخکې د امویانو والیانو د دوی په نوم حکومت کاوه، کله چې خلافت په اسیا او افریقا کې له منځه ولاړ نو دغه سیمه یې د وروستي مورچل په توګه وساتله او عبد الرحمن الداخل پرې د امویانو خلافت جوړ کړ.

عبد الرحمن د **۱۱۳هـ ۷۳۱**م مهال د شام په دیر حنین یا تدمر سیمه کې پیدا شوی دی، مور یې له بربر قبیلې سره تړاو لري، پلار یې د خلافت د کورنۍ یو ځوان و چې په ځواني کې د **۱۱۸هـ ۷۳۶**م مهال وفات شو او د هغه پلار هشام بن عبد الملك یې د اولادونو پالنه وکړه.

عبد الرحمن هغه مهال چې عباسیانو یې پر کورنۍ چاپه وهله په ښکار پسې وتلی و، کله چې خبر شو پر خپله مخه ولاړ، تر ډېر تکلیف وروسته فلسطین ته

[۲۲] دولة الاسلام في الاندلس: ۱/ ۹۲- ۱۱۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسید، هلته یې غلام بـدر او د خـور ازاد شـوی غـلام سـالم ابـو شـجاع هـم ور ورسیدل، ابو شجاع په دې سیمه کې شناخت درلود، په افریقا او اندلس کې یې له موسی بن نصیر سره وخت تیر کړی و، عبد الـرحمن مصرـ تـه ولاړ او هغـه لـه ځایه د افریقا اوسني تونس ته ورسید، تر دا مهاله لا د عباسیانو واک دې ځای ته نه وو رسیدلی چې د اموي کورنۍ نورو امیرانـو هـم دې لـور تـه پنـا راوړه. د دې ځای امیر عبد الرحمن بن حبیب الفهري غوښتل چې اموي امیران یا مـړه یـا هـم ژوندي ونیسي خو عبد الرحمن فرار وکړ او د بربر قبایلو ته یې پنا ور وړه.

عبد الرحمن په شمالي افریقا کې له یوه ځایه بل ته نقلیده او پنځه کاله یې دلته په همدې بڼه تیر کړل، لومړی د بربر قبیلې له مکناسه ښځې سره اوسیده، بیـا د خپلـو ماماګانو قبیلې نفزه ته ترې ولاړ، دلته په پاته کیدا یې د نورو بربر قبیلو ملاتـړ هـم تر لاسه کړ، د مغیله قبیلې سره د اوسیدنې مهال یـې هغـوی ډېـر خیـال وسـاته او ابوقره یا ابن قره د ده د اقامې مهال هغه پټ وساته چې زیان ورته ونه رسیږي.

**اندلس ته د تیریدلو فکر:**

عبد الرحمن د طنجه ساحل ته نژدې پـه مغیلـه قبیلیـه کـې اوسـیده، د خلافـت د کورنۍ سره د اړیکو له امله هغه په اندلس کې له حالاتو خبر و، بیا یې د خور ازاد شوی غلام سالم هم د دې سترې سیمې په اړه خـبرې ورتـه کـولې او پـه شـمالي افریقا کې د هستوګنې مهال یې د اندلس د ګډوډۍ خبرونه تر لاسه کول.

له ۱۳۰هـ وروسته په اندلس کې د صمیل بن حـاتم الکـلابي او یوسـف بـن عبـد الرحمن الفهري خپل سری حکومت و چې له نورو عربي قبـایلو سره پـه جنجـال کښیوتی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اندلس کې د امويانو موالي هم موجود وو، دوی له اموي کورنۍ سره ښې اړيکې در لودې، د دې موالیانو مشر ابو الحجاج یوسف بن بخت په جیان کې د موالیانو مشر و، همداشان یې ابو عثمان عبید الله بن عثمان او عبد الله بن خالد هم د موالیو مشران وو، دوی نه یوازې په خپلو خلکو کې محبوبیت در لود بلکې د ښه ثروت او ځمکو خاوندان هم وو.

عبد الرحمن د صمیل او لاس پوځي والي یوسف فهري مشغولتیا د ځان لپاره په ګټه وبلله او له دې درې مشرانو سره یې د خپل غلام بدر په وسیله اړیکه ونیوه، هغوی تر خپل منځ مشوره وکړه او دا خبره یې سره پخه کړه چې عبد الرحمن الداخل پر دوی حق لري چې ملاتړ یې وکړي، ځکه هغه خپل وروستي سخت حالات دوی ته په تفصیل بیان کړي وو، له دوی یې مرسته طلب کړې وه او خپل پخواني احسانونه یې ورته یاد کړي وو چې له ده سره باید په دې سختو شرایطو کې مرسته وکړي. دوی غوښتل له صمیل سره هم مشوره وکړي ځکه هغه هم ددې سیمې له مشرانو څخه و او له دوی سره یې اړیکې بدې نه وې. دوی په ډېره سخته موکه پیدا کړه چې صمیل ته خپله خبره وکړي، هغه په لومړي سره کې خبره تایید کړه البته وروسته یې فکر وکړ چې د الداخل په راتلو د ده او کورنۍ قدرت یې ختمېږي نو یې فکر بدل کړ او هغوی یې وډار کړل چې الداخل که راشي زه جنګ ورسره کوم او د هغه راتګ زموږ لپاره د خطر زنګ دی، او که یوازې د پنا لپاره راځي بیا پروا نه کوي او دی یې ملاتړی دی، خو امارت یې نه قبلوي. له دې درو مشرانو سره د عبد الرحمن غلام په ۱۳٦هـ کې اړیکه نیولې وه.

له صمیل څخه تر ناهیلي وروسته دې درو مشرانو د هغه مخالف لوري ته مخه کړه، له هغو یمنیانو سره یې اړیکه ونیوه چې صمیل یې مشر ور وژلی و، هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل انتقام لپاره هم د اوبو څڅک ته لاس ور اچاوه سمدستي يې له دې درو مشرانو سره د هغوی خبره ومنله او د عبد الرحمن پر راتګ ورسره سلا شول.

کله چې يوسف او صميل په سرقسطه کې د خپلو مخالفانو په ټکولو بوخت وو، دوی دا مهال د الداخل د رابلو مناسب فرصت وباله او هغه ته يې پنځه سوه دیناره ور ولېږل چې د ده پر میلمه پاله قبیله يې وويشي او د ده مشکلات په حل کړي، نو د ۱۳۸ په ربيع الثاني کې هغه د منکب په بندرګاه کې اندلس ته راغی چې د مریه او ماله ښارونو ترمنځ وه. دلته يې پلویانو او هغو درو مشرانو تود هرکلی وکړ، لومړی د ابن خالد منزل ته ولاړ، بيا هغه له ځايه د ابن عثمان کلي ته ولاړ چې په طرشه کې پروت و.

يوسف فهري چې په دې چاره خبر شو، نو د بیره حاکم ته يې وليکل چې هغه ونيسي، خو په دې وخت کې د هغه پر شاوخوا زيات کسان راټول شوي وو نو د نيولو چانس يې تير شوی و. په سرقسطه کې د خپلو مخالفو له ټکولو چې دی او صميل فارغ شول نو صميل غوښتل چې سمدستي د الداخل خبره خلاصه کړي، مګر يوسف دې ته تيار نه و، بل لور ته د الداخل پلويانو اوازه ګډه کړه چې هغه يوازې دلته د سرخوندي کولو لپاره راغلی دی نه د امارت په لټه، د يوسف په لښکر کې هم غوغا ګډه وه او نه يې غوښتل چې د الداخل پر وړاندې کوم اقدام وکړي، له دې سره ژمی شو، بارانانونه او سړه هوا هم بل خنډ شو، له دې امله يوسف لښکر ته امر وکړ چې قرطبې ته ولاړ شي او د الداخل کار وځنډوي. په دې توګه الداخل سمدستي له خطر څخه وژغورل شو.

د ۱۳۸ هـ د کوچني اختر خطبه د لومړي ځل لپاره د اردن د پوځ د مشر په غوښتنه په ريه ښار کې د الداخل په نوم وويل شوه او د يوسف نوم ايسته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په الريه کې يې شل ورځې تيرې کړې، د بربر قبيلې له مشر-عبد الرحمن بن عوسجه يې ملاتړ وغوښت چې هغه يې ملاتړ وکړ او څلور سوه بربري کسان يې د عبد الرحمن الداخل ملاتړ ته ولېږل چې دا موالي اصلا د يزيد بن عبد الملک بلل کيدل او اوس د عبدالرحمن په ولاء کې راغلل. يمنيانو او بربريانو د خپلو راتلونکو ګټو په خاطر له عبد الرحمن سره لاس يو کړ او د هغه تر مشرۍ لاندې يې د نظام تغيير ته زړه ښه کړ، خو داسې بربر ډلې هم وې چې له صميل او يوسف سره يې لارې يو کړې وې، ځکه هغوی خپلې ګټې د هغوی په شتون کې ليدلې.

الداخل چې له ريه شذونه ته روانيده نو د ملاتړو شمېر يې دوه زرو ته رسيده، د بربر له مغيله قبيلې هم ښه ډېر کسان ورسره يوځای شول، د فلسطين د پوځ مشر-چې همدلته ميشت و، هغه ته هر کلی ووايه، له شذونه يې خپل موالي د حمص لښکر ته چې په اشبيليه او غربي سيمو کې ميشت وو، ولېږل او له خپله مسيره يې خبر کړل، د هغوی د موافقې تر لاسه کولو وروسته عبد الرحمن الداخل اشبيليې ته مخه کړه، اشبيليې ته په رسيدو، يمنيانو، شاميانو ا د هغه ځای نورو اوسيدونکو په همږغي ورته هر کلی ووايه چې په سر کې يې ابو الصباح يحيی اليحصبي او حيوه بن ملامس الحضرمي وو، دوی د اطاعت قسمونه ور ته وکړل او په دې سره د الداخل د ځواک شمېر ډېر زيات شو چې سپاره يې درې زره او ګڼشمېر پياده پوځ هم ورسره ملتيا کوله. په دې وخت کې يوسف او صميل غوښتل چې پر عبد الرحمن بريد وکړي، نو د قنسرين او بيره پوځ يې له ځان سره واخيست د هغه لور ته يې حرکت وکړ، الداخل چې يې په اراده خبر شو، له اشبيليې يې د قرطبې لور ته کوچ وکړ، صميل چې د هغه په اراده خبر شو بيرته وګرزيد او د قرطبې د ساتنې لپاره يې ګړندی تګ کاوه، په دې وخت کې د دوی دواړو پوځونو ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازې یو نهر مانع و چې یو پوځ یې یوه لورته او بل یې بل لور ته د قرطبې پرخوا روان وو.

**د مصادرې جګړه او قرطبې ته د عبد الرحمن دخول:**

د نهر اوبه په دې وخت کې زیاتې وې، نو یوه لوري هم پر بـل د بریـد تکـل نـه شوای کولای، الداخل غوښتل تر یوسف وړاندې قرطبې ته ولاړ شي، نو یوځای یې اور بل کړ چې مقابل لوری فکر وکړي دوی کوچ نه دی کړی، نو په شپه کې یې غوښتل چې کوچ وکړي او دښمن په ځان خبر نه کړي، اما یوسف او صـمیل یې ناڅاپي حرکت ته متوجې شول او الداخل قرطبې ته په ننوتلو کې ناکام شو. نو که به یو لښکر تګ کاوه بل هم مجبور و، که به هغه پړاو کاوه بل هم اړ و، ان تر دې چې په مصادره کې نومي ځای کې د یوسف لښکر قرطبې ته نژدې پړاو وکـړ او د عبد الرحمن مقابلې ته یې تیاري وکړه.

دواړو ډلو درې ورځې انتظار وکړ چې د نهر اوبه یوڅه کښته شي، د ذي الحجـې له شپږم تاریخ دوشنبې څخه تر پنځم د پنجشنبې تر ورځې د ۱۳۸هـ کـال انتظـار وشو. په دې وخت کې عبد الرحمن پر دوو کارونو فوکس وکړ: یو دا چې د پوځ ترتیبات او تنظیم یې خلاص کړل، پر لښکر یې مشران وټاکل، دویـم یـې پـه دې اړه فکر وکړ چې څنګه وکولای شي دوی د دښمن لور ته ور تیر شي او هغوی له نهره د تیریدلو پر مهال غرض په ونه لري.

د عبد الرحمن بن نعیم الکلبي په نوم یو کس یې د شامیانو پر اس سپرې ډله مشر کړ، د یمنیانو د پیاده ګروپ مشر یې بلوهه اللخمي تعین کړ، د عاصـم بـن مسـلم الثقفي په نوم یو کس یې د بربر او بني امیه پر پیاده ګانو مشر کړ، د بنـي امیـه پـر اس سپره ډله یې حبیب بن عبد الملك القرشي مشرـ وټاکـه، د بربـر د اس سـپرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کسانو مشري يې ابراهيم بن شجره البرنسي ته ور کړه، په اخير کې يې د ټول پـوځ مشري د مواليو يوه مشر ابو عثمان عبيد الله بن عثمان ته وسپارله او يو لـوی بيـرغ يې ور کړ.

د دويم مشکل د حل لپاره عبد الرحمن له يوسف فهري سره په تماس کې شو، له هغه څخه يې يوې روغې جوړې ته د رسيدلو لپاره د خبرو اترو غوښتنه وکړه، يـو پلاوی يې د يوسف لورته ولېږه چې خبرې پيل کړي او د هغه د پخوانيو شرطونـو منلو ته يې ځان چمتو وښود. هيله يـې اصـلا دا وه چـې يوسـف د ده د لښـکر د تيريدو مهال کوم نظامي عمليات ونه کړي او هغه ته يې فکـر وکـړ چـې د خـبرو مهال بايد دواړه لښکرې سره نژدې وي چې خبرې ژر مختـه ولاړې شي، پـه دې بانه يې ځان ور تير کړ او يوسف يې خطا کړ، هغه پر لښکر هيڅ بريد ونـه کـړ او پسونه و غوايي يې هم د ميلمستيا لپاره ور ولېږل، شپه يې په ارامه فضـا کـې تيـره کړه او په دا سبا يې د جګړې لپاره چمتوالی وکړ چې د يوسف لښکر هيڅ تيار نه و، د ۱۳۸ کال د جمعې په ورځ يې په داسې حال کې د يوسـف پـر لښـکر بريـد وکړ چې هغه بالکل ناخبره و، له هر ډول نظامي تيـاري پرتـه د جنـګ ميـدان تـه کښته شو، درې کسانو يې د پياده پوځ مشري واخيسته چې کنانه بن کنانه، جوشن بن صميل او عبد الله بن يوسف الفهري وو، د شاميانو اس سپره ډله يې عـلي بـن عبيد الکلابي ته ور کړه، د يوسف يوه ازاد شوي غلام خالـد سـودي د يوسـف د موالي او له بربر قبيلې د دوستانو مشري ته اوړه ور کړه.

مصاره ته نژدې جګړه پيل شوه، دا ډېره لنډه وه، د الداخل سپرو پـر زړه او راسـته اړخ هجوم ور ووړ، په لنډ وخـت کـې د جګـړې لـه ميدانـه خالـد سـودي او لـه بربريانو و د يوسف له مواليو جوړ لښکر يې پښې سپکې کړې، د پياده پوځ درې مشران ووژل شول، د چپ اړخ سرلښکر عبيد بن علي الکـلابي هڅـه وکـړه چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل دریغ ثابت وساتي خو د عبد الرحمن د سپرو په وړاندې یې ځان نه شـوای ټینګولای، نو له ډېـرو کسـانو سره یوځـای ووژل، پـه دې وخـت کـې صـمیل او یوسف ته له تیښتې پرته بله لار نه وه، یوسف الفهري هڅه وکړه چـې قرطبـې تـه داخل شي، خو د بربریانو یوه مشر له دې منعه کړ نو مجبور شو چې طلیطلـې یـا بیره ته پنا یوسي.

تر بریا وروسته عبد الرحمن قرطبې ته داخل شو، د جمعې لمـونځ یـې پـه جـامع جومات کې ادا کړ او همدلته خلکو له هغه سره بیعت وکړ. په همدې وخت کې د الداخل د لښکر ځینو کسانو د صمیل او یوسف له هستوګنځیو چور تالان وکړ، د زرګونو دینارو پراته صندوقونه یې یووړل، الداخل چې په دې چورتالان خبر شـو امر یې وکړ چې بند یې کړي او تالا شوي شیان خپلو مالکانو تـه وسـپاري، نـو د یمنیانو کمعقلانو هغه د قریشو په تعصب ملامت کړ، اما هوښیارو مشرانو یې خبره تایید کړه، د هغه امر یې ومانه که څه هم په زړه کې یې له ده څخـه خپګـان پیـدا شو. یمنیانو اصلا له یوسف او صمیل څخـه ځانونـه بېغمـه کـول، تـر دې ارمـان وروسته یې ځانو ته ښې ونډې غوښتې چـې پـه دې سره یـې د عبـد الـرحمن پـر شخصیت خطا شوي وو، نو خپلې خطا ته تر پام کیدو وروسته یې غوښتل چې د هغه خلاف انقلاب وکړي، په دې مشرانو کې د اندلس د لویـدیځې برخـې مشرـ ابو الصباح الیحصبي وړاندې و، چې الداخل ته معامله رسوا شوه او د ځان ساتنې لپاره یې ژر امنیتي تدابیر ونیول. د پولیسو یوه ټولۍ یې پر خپله شاوخوا وګومارله، مشري یې عبد الرحمن بن نعیم الکلبي ته ور کړه چې د قضـاعه قبیلـې و او دوی ته یې وفادارسي ثابته وه، دا د الداخل په حکومت کې لـومړی رسـمي منصـب و چې یوه کس ته ور کړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر دې بريا وروسته په اندلس کې يوځل بيا د امويـانو حکومـت جـوړ شـو، عبـد الرحمن د جمعې په ورځ چې د ذي الحجې لسمه نېټه کېده د ۱۳۸هـ کال چې له ۷۵٦م سره يې سمون درلود خپله نوې واکمني له شام څخـه دېـره لـرې بيـا جـوړه کړه. اما يوسف او صميل ارام نه کيناستل، هغـوی لـه مختلفـو ځـايونو بيـا لښـکر راغونډ کړ او د عبد الرحمن ټاکل شويو واليانو ته يې خطر جوړ، څو کسان يې له خپلو دندو وشړل، پر قرطبه يې د هغه په غياب کې د زوی په وسيله حمله وکړه او چور چپاول يې وکړ، الداخل بيرته تر لاسه کړه او د يوسف زوی يې تيښتې تـه اړ کړ. بيرته ته يې د يوسف او صميل مقابلې ته مخه کړه چې په بيـره کـې ديـره وو، هغوی ته په ورتلو پوه شو چې دوی خبرې او سـوله کـول غـواړي، ځکـه د ده د مقابلې توان يې په ځان کې نه ليده، نو د بنديانو پر تبادله، د عبد الـرحمن د اميـر منلو پر شرط يې داسې سوله سره وکړه چې د يوسف او صـميل پـه جايـدادونو او ممتلکاتو به کار نه لري، د هغوی کومکيانو او ملگرو ته به عمومي عفوه کېږي نو به پر اندلس د امير عبد الرحمن الداخل امارت وي چې دوی به يې هـم منـي، د وضعې د قراريدو د تضمين په خاطر يې د يوسف دوه زامن د برمته وو په توگه له ځان سره وساتل او په ۱۴۰ هـ کې له هغوی سره سوله وشـوه او عبـد الـرحمن تـر سرگردانيو وروسته يوځل بيا د اموي خلافت بنسټ کيښود.[۲۳]

البته الداخل خپل حکومت ته د خلافت نوم نه دی ور کړی، په لـومړي سر کـې يې خطبه هم د عباسي خليفه ابو جعفر المنصور پـه نـوم ويلـه، تـر لـس مياشـتې وروسته، يې د عبد الملك بن عمر المرواني په مشوره د هغه نوم له خطبې ايسـته کړ، تر دې وروسته يې هم ځان خليفه اعلان نه کړ، بلکې ابن الخلفاء يې ځان ته غوره کړ، ده فکر کاوه چې خلافت په يوه وخت کې دوه نه وي، او له هر چا سره چې د حجاز، شام او عراق واکمني وي هغه اصل خليفه او د امير المومنين لقب

---

[۲۳] تاريخ العرب...: ۹۱- ۱۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



مستحق دی. حالات همداسې پاته وو، د الداخل اولادې واک میراثي کړ، د دریېم عبد الرحمن تر راتګ وروسته هغه په ۳۱۶هـ کې اموي خلافت اعلان کړ. عبد الرحمن الاول له ۱۳۸ څخه تر ۱۷۲هـ واکمني کړې ده چې ټوله موده یې تقریبا ۳۴ کاله کیږي. وروسته یې زوی هشام اول واکمن شو، چې له ۱۷۲ تر ۱۸۰هـ واکمن و او اته کاله یې واک وچلاوه. بیا حکم اول واک ته ورسید چې له ۱۸۰ تر ۲۰۶ هـ په واک کې پاته شو د واک موده یې ۲۶ کاله کیږي. وروسته عبد الرحمن الثاني یا اوسط واک ته ورسید چې له ۲۰۶ تر ۲۳۸ په واک کې پاته شو د واک موده یې ۳۲ کاله کیږي. بیا محمد اول واک ته ورسید چې له ۲۳۸ څخه تر ۲۷۳ یې واک وچلاوه، د واک موده یې ۳۵ کاله کیږي. منذر بن محمد وروسته واک ته ورسید چې له ۲۷۳ بیا تر ۲۷۵ یې د واک موده وه چې دوه کاله کیږي. تر ده وروسته عبد الله بن محمد امیر شو، دی له ۲۷۵ تر ۳۰۰ هـ په واک کې پاته شو د واک موده یې ۲۵ کاله کیږي. تر ده وروسته محمد د عبد الرحمن ناصر پلار واک ته ورسید چې د یادولو وړ موده یې کار نه دی کړی، تر ده وروسته عبد الرحمن الثالث(الناصر) واک ته ورسید له ۳۰۰ څخه تر ۳۵۰ کاله یې حکومت کړی چې همده د امویانو خلافت په اندلس کې د ۳۱۶هـ مهال اعلان کړ. په دې سره د امویانو د امیریت دوره پای مومي او د خلافت عهد یې پیلیږي. په دې وخت کې فاطمیانو له عباسي خلافت څخه جلا د بل خلافت اعلان وکړ، عباسي خلافت کې فارسي او نور عجمي عناصر داخل شوي وو او هغه اصل قرشیت ته یې صدمه د واک په تر لاسه کولو رسولې وه او د عبد الرحمن الثالث اداري او عسکري خدماتو ته په کتو د اندلس خلکو د خلیفه د لقب مستحق وباله، نو ځکه ده په خپل وخت کې د امویانو خلافت په اندلس کې اعلان کړ.

د ناصر تر مړینې وروسته د هغه زوی حکم ثاني چې المستنصر بالله لقب یې و، د خلافت چارې په لاس کې ونیوې، ده له ۳۵۰ څخه تر ۳۶۶هـ خلافت وکړ، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وخت کې يې عمر ۴۸ کلونو ته رسيدلی و. د خلافت په چارو کې يې د خپل پلار تګلاره مخته وړه. د ده په وخت کې له بر او بحر څخه پر مسلمانانو بريدونه وشول خو حکم يې په کلکه دفاع وکړه او په شمال کې موکې ته پټ دښمنان يې له ډاره سولې او د امن ژوند ته اړ کړل چې لـه ده سره يـې د سـولې او نـه جنـګ تړونونه وکړل.

حکم مستنصر بالله ډېر ښه خلافت وکړ، د ده وخت د انـدلس د خلکـو لپـاره يـو زرين چانس و، نوموړی عالم، فقيه، په انسابو خبر، د تاريخ عالم او ګڼشمېر نور صفات يې در لودل چې په همدې سره د ده په وخت کې علـوم وغوړيـدل، لـه بغداد او نوور ځايونو يې کتابونه اندلس ته وړل او دلته د علم لپاره په چټکې کار کيده. مشهورو علماؤ ته يې احوال ور کاوه چې د هغوی د تاليفاتو لومړنۍ نسخې هغه ته ور کړي او په دې سره يې د اموي خلافت پـه کتـابتون کـې زرګونـه ټوکـه کتابونه راغونډ کړي وو؛ ابن حزم په دې اړه وايي: د هغو فهرستونو شـمېر چـې د کتابونو نومونه پکې ليکلي وو، ۴۴ ته رسيده، په هـر فهرسـت کـې ۵۰ ورقـې وې چې يوازې د ديوانو نومونه پکـې لـيکلي وو. د دې کتـابتونو چـارې د ده د ورور عبد العزيز له غاړې وې، د منذر په نوم ورور ته يې د قرطبې تعليمي چارې ور له غاړې کړې وې. په خپل وخت کې يې ستر علماء را جمعه کـول، کتابونـه يـې را ټول کړل او د بې وزلو اولادونو ته يـې د وړيـا تعلـيم زمينـه برابـره کـړه، د قرطبـې پوهنتون ته يې خاصه توجو وکړه او د نړۍ مشهور علماؤ يـې ورتـه راوبلـل، سـتر معاشونه او لويې ډالـۍ يـې ور کـولې، د ده د دورې پـه اړه يـو هسـپانوی مـورخ لافونتي وايي: د حکم ثاني دوره د ادب او تمدن دوره وه.

حکم د ۳٦٦هـ مهال وفات شو او پر ځای يې زوی هشام المؤيد چې ۱۱ کالـه او اته مياشتې عمر يې در لود، کېناست. له دې سره چې د خلافـت لپـاره د هغـه وړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورونه موجود وو، خو ده بيا هم د خپل زوى او خلافت په حق کې سـتره اشـتباه وکړه، دا کار يې نه يوازې له مسلمان ملت سره جفا وه بلکې په اندلس کې يې د مسلمانانو برخليک بدل کړ، د اموي خلافت دبده يې لـه منځـه يـووړه او واک د خليفه پر ځاى د هغه د يوه کارمند ابن ابي عامر تـه پـه لاس ورغـى چـې ماشـوم خليفه د هغه په لاسونو کې لوبيده. په دې سره د خليفه او خلافت يوازې نوم پاتـه شو او واک د امويانو له کورنۍ بلې ته نقل شو چې عامريه کورنۍ بلله کيده چې د عبد الرحمن بن ابي عامر الملقب په شنجول له مرګ سره د هغوى د کورنۍ واک هم پاى ته ورسيد او اندلس په يوه کورنۍ جګړه او ملوک الطوايفي کـې ور دننـه شو، ان د ۴۲۲هـ مهال د امويانو د بخت ستورى يومخيز پريوت او د قرطبې اهـل د خلافت او اموي کورنۍ د واک پاى اعلان کړ او د اندلس په زياتره لويو ښارونو کې د هغه ځاى حاکمانو له مرکز څخه خپلواکي اعلان کړه.

له دې ځايه ممکنه ده چې ووايو د اموي کورنۍ واک د حکم مستنصر پـه مـرګ په ۳٦٦ کې پاى ته ورسيد او له دې نيتې د عامريه کـورنۍ دور پيـل شـو چـې لـه خليفه هشام څخه يې مشروعيت واخيست او تر يوه وخته يې د هغه په نوم باندې واک هم وچلاوه. خليفه ته نژدې محمد بن ابي عامر ځانګړى څارونکى، جعفـر بن عثمان المصحفي لوى وزير او په شمالي جبهه کې د پوځ قومندان غالـب بـن عبد الرحمن د هغه وصيت نافذونکي وو چې حکم مستنصر د خپل زوى هشام د وليعهدۍ لپاره کړى و.

بل لور ته د په دولت کې يوه بـل سـتر اړخ د صـقالبه وو مشرـانو فـائق او جـؤذر غوښتل چې د اموي کورنۍ يو بل وتلى شخص امير مغيره بن عبد الرحمن الناصر د حکم مستنصر ورور د هشام پر ځاى خليفه شي څو د خلافت وحـدت وسـاتل شي. صقالبه د خلافت په ماڼۍ کې د ښه پوره قووت خاوندان وو، هغوى غوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د نوي خليفه پر ضد قيام وکړي، مگر ابن ابي عامر او المصحفي يې په سريعو اجراءاتو مخه ونيوه، د هغوی انتخاب شوی خليفه مغيره يې قتل کړ او صقالبه يې په زور د خپلو غوښتنو منلو ته اړ کړل. له دې وخت څخه د ابن ابي عامر دور پيلېږي چې په ٣٦٦ کې يې د شمال لور ته د دښمن پر ضد پوځي عمليات هم وکړل او خپل نوم يې خلکو ته په ښه توگه ور وپېژندی، ورو ورو يې له خپلې مخې هغه کسان پورته کول چې د ده د واک په لار کې خنډ وو، په دې سره يې مصحفي هم يوه ورځ زندان ته ټيله کړه او هغه وروستی خنډ يې د خپل ځان په وړاندې هم له لارې ايسته کړ. مصحفي د ٣٧٢ هـ مهال د هغه په زندان کې وفات شو. مصحفي تر دې مخکې د شمالي جبهې له قومندان غالب سره د يوې دوستی له لارې غوښتل چې خپل پخواني مخالفتونه هير کړي او د ابن ابي عامر خلاف نوې جبهه پرانيزي، غوښتل يې د غالب لور خپل زوی محمد ته وغواړي، خو ابن ابي عامر يې په لار کې خنډ شو او د غالب لور يې د خپل ځان لپاره وغوښتله چې په دې سره يې د هغوی د اتحاد نه يوازې مخه ډب کړه بلکې غالب يې د خپل ځان په خوسر کولو د ځان متحد جوړ کړ چې ورپسې د ٣٦٧ مهال په يوه حمله کې له خپلو لښکرو سره د هغه لښکرې هم له ځان سره واخيستې او په شمال کې يې گڼ فتوحات وکړل چې په راتلو يې خليفه د ذي الوزارتين لقب ور کړ او هغه وظيفه يې ده ته وسپارله چې مخکې مصحفي او غالب دواړو مخته وړه او په سره ابن ابي عامر په دولت کې تر خليفه وروسته لومړنی کس بلل کيده.

ابن ابي عامر په دويم قدم کې دا کار وکړ چې د حکم مستنصر د قواؤ پر ځای يې ځان ته نورې لښکرې جوړې کړې، په سوکه سوکه يې د خپلو باوري لښکرو شمېر زيات کړ چې ان په اندلس کې د حاکم مطلق بڼه يې خپله کړه او په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې د هغه یوازینی سیال د هغه خپل خوسر غالب د شمالي جبهې قومندان پاته شو چې په عسکري خدماتو کې یې ښه نوم در لود.

ابن ابي عامر د هغه پر ځای بل کس چې نوم یې په اندلس کې تر هغه کم نه و، جعفر بن علي بن حمدون المعروف په ابن الاندلسي راوغوښت، د وزیر لقب یې ور کړ، له خپلو خاصو کسانو یې کړ او د حضره پوځ قومندان یې وټاکه. په دې سره د غالب بن عبد الرحمن غوسه راوپاریده، هغه پوهیده چې ابن ابي عامر یې په وړاندې دسیسه جوړوي، یوازې د هغه خپله پوهه هم نه وه، بلکې د خلیفه مور هم هغه وپاراوه چې ابن ابي عامر نه یوازې ستا په وړاندې دسیسه جوړوي بلکې خلیفه یې هم له واکه اچولی دی. خوسر خپل زوم یوې ولیمې چې په انتسه ښار کې یې جوړه کړې وه، طلب کړ، دواړه په انفرادي توګه سره کیناستل او خبرې یې وکړې، غالب د محمد بن ابي عامر د وژلو لپاره توره وکښه چې هغه په ډېر انتیکه ډول له دې حملې وژغورل شو او سمدستي خپلې پلازمینې قرطبې ته راستون شو، دلته یې خاص لښکر تیار کړی و، د غالب قومندان پر اوسیدن ځای یې برید وکړ او هغه یې ترې ونیوی، غالب له ډېرې مجبورۍ اړ شو په هسپانیه کې له شمالي دښمنانو سره لاس یو کړي، له هغوی سره یوځای یې د ابن ابي عامر خلاف په ۳۷۱هـ محرم کې جګړه وکړه، له انتسه ښار سره نژدې دواړې لښکرې یو له بل سره لاس او ګریوان شوې، نژدې وه چې ابن ابي عامر ماته وخوري خو په دې وخت کې پر غالب ناڅاپه د زړه حمله راغله او هغه د جګړې په میدان کې ومړ او د ابن ابي عامر ستوری بیا هم وځلید.

د ۳۷۲هـ مهال یې خپل نژدې کس جعفر بن علي بن حمدون د حضره لښکر مشر ته دسیسه جوړه کړه او د یوې دسیسې په ترڅ کې یې هغه مړ کړ او بیا یې د هغه قاتلین هم اعدام کړل چې د هغه د مرګ تور پر ده پوري نه شي، په دې سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اندلس کې ټول هغه کسان له منځه یووړل چې ده د خپل ځان په اړه خطر ترې احساساوه، له دې سره یې ځان ته منصور لقب غوره کړ او په منبرونو به د هغه نوم یادیده. د ده په اړه ابن خطیب السلماني لیکي:

تاریخ العرب وحضارتهم في الأندلس (ص: ۱۹۷)

کان ابن أبي عامر آیة في الدهاء والمکر والسیاسة عدا بالمصحفي علی الصقالبة حتی قتلهم، ثم عدا بغالب علی المصحفي حتی قتله، ثم عدا بجعفر بن علي بن الأندلسي علی غالب حتی استراح منه ثم عدا بنفسه علی جعفر حتی أهلکه ثم انفرد ینادي صروف الدهر: هل من مبارز.

ابن ابي عامر په هوښیاري، فریب او سیاست کې یوه ځانګړې نښه وه، مصحفي یې پر صقالبه وو ور مست کړ هغوی یې په مړه کړل، بیا یې په غالب باندې مصحفي ګوښه او قتل کړ، ورپسې یې په جعفر بن علي الاندلسي- باندې غالب وواهه ځو یې له هغه ځان بېغمه کړ، اخر یې جعفر په خپله له منځه یووړی بیا یې تر دې مبارزې وروسته ویل: ایا کوم بل مبارزه کوونکی هم شته؟!

نوموړي د شمالي دښمنانو خلاف تر ۵۰ زیاتې حملې وکړې چې په یوه حمله کې هم نه دی ناکامه شوی، ده به تل په خپلو حملو کې هجومي تګلاره غوره کوله چې دښمن دفاعي حالت ته اړ کړي، ابن ابي عامر په خپلو حملو کې هغو ځایونو ته ورسید چې مخکې هیڅ اسلامي سپه سالار هغه ځای ته نه وو رسیدلی، په دې سره یې دښمن ته دا په ډاګه کړه چې اسلامي لښکرې که وغواړي نو د هغوی هر ځای په هر وخت کې تر برید لاندې راوستلای شي او د هغوی هر ښار ته خطر جوړولای شي.د دغو حملو په لړ کې یې تر ټولو مشهوره حمله د ۳۷۱ کال حمله وه چې د ځینو پاچاهانو د تادیب لپاره یې وکړه، دغه حمله یې د غالب

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرستې لپاره کړې وه، په دې سره يې د دښمنانو اتحاد مات کړ او د هغوی ښارونه يې يو په بل پسې سقوط کړل اما د ژمي په راتلو او د واورې په اوريدو يې خپلې لښکرې د خپل هيواد لور ته ستنې کړې چې په دې سره يې دښمن اړ کړ ده ته جزيه ومني.

په ۳۷۴ کې يې د برشلونه خلاف بله حمله وکړه، او د ۳۷٦ پر مهال يې د ليون د غوړ پيچ لپاره بريد وکړ چې د تړون له ځينو مادو يې مخالفت کړی و.

ابن ابي عامر له ۳٦۸هـ څخه د يوه ښار بنسټ هم کيښود چې زاهره نوم يې ور کړی و، په ۳۷۰ کې دغه ښار تکميل شو چې دی له خپلو خاصو کسانو سره ورنقل شو او د خليفه په مقر کې پر ځان ډاريده له دې امله يې نور نه غوښتل چې له خليفه سره يوځای د هغه په قصر کې واوسي.

منصور ابن ابي عامر د ۳۹۲هـ په رمضان کې د ٦٥ کلونو په عمر مړ شو چې نژدې ۲۵ کاله يې د واک واګې په لاس کې نيولې وې. ابن ابي عامر مورخينو نابغه بللی دی، نوموړی د منځنۍ طبقې کس و چې له دې حالته يې ځان پاچاهي ته ورساوه، داسې يو سلطنت يې جوړ کړ او ځان يې داسې واکمن ثابت کړ چې د اندلس تيرو واکمنانو يوه هم د ده په شان واکمني نه ده کړې، حتا عبد الرحمن الناصر هم تر ده په دې چارو کې کم و. دا خبره به مناسبه وي چې د اندلس په تاريخ کې د ده دور تر ټولو ځلانده دوره د سياست او تمدن له اړخه وبلله شي.

تر ده وروسته يې زوی عبدالملك بن منصور المظفر ځای ناستی شو، د هغه په دور کې يې وزيرانو تر خپل منځ سيالي شروع کړه چې دا کار يې د اسلامي دولت په زيان تمام شو. که څه هم يوه وزير به بل وپرزاوه، اما دا کار د هغه هم په خير نه تماميده. وزير بن سعيد پر طرفه الصقلبي مظفر غوسه کړ چې هغه يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹۴ مهال مشرقي الجزائر ته وشاړه، خو تر دې وروسته يې د مظفر پر ځای د يوه اموي کس د واک ته رسولو هڅې پيل کړې چې دا دسيسه يې افشا شوه او هغه په دې سره د ۳۹۷ مهال خپله سر وبايله او د حاکم له لوري عدام شو.

عبد الملك بن منصور بن ابي عامر اووه کاله حکومت وکړ، ان چې د ۱۰۰۹/۳۹۹م مهال وفات شو او پر ځای يې خپل ورور عبد الرحمن شنجول پريښود، ورور يې هغه وړتياوې نه درلودې چې د خپل حاکم ورور خلا يې ډکه کړې وای، هغه هوښيار او زړور نه وو، نو د خپل پلار او ورور په سيات او تګلاره کې يې تغيير راوست، له نظر بند خليفه سره يې اړيکې زياتې کړې چې هغه ورته د مامون لقب ور کړ، د خلافت لپاره يې وليعهد وټاکه او په دې سره يې خپل نژدې کسان هم غوسه او هم خپله کړل.

عبد الرحمن شنجول چې د قشتالي د جنګ لپاره له خپلې پلازمينې ووت، زياتره نظامي ځواک يې له ځان سره واخيست، نو د عبد الرحمن ناصر لسمي محمد بن هشام يې پر ضد پاڅون وکړ، د جمادي الاخر پر ۱٦ تاريخ د ۳۹۹هـ مهال چې له ۱۰۰۹م سره يې سمون در لود، محمد د خليفه هشام الموید قصر ته داخل شو، هغه د محمد په ګټه له خلافت تنازل وکړ او دی يې پر ماڼۍ ولکه وکړه، زاهره ښارګوټی يې ونړاوه او ټولې خزانې او هر څه چې په لاس ورغلل هغه يې چور کړل.

شنجول د انقلاب خبر واوريد، بيرته راوګرزيد، د هشام موید له لوري چې هغه ته د ولعهد منصب ور کول شوی و، له هغه يې تنازل وکړ او د هشام موید مرستې ته يې بلنه پيل کړه، خو دا وخت ډېر ناوخته شوی و، له ده څخه د پوځ لويه برخه ولاړه او اخر دی په همدې کال کې په اعدام محکوم شو. په دې ټول د عامريه کورنۍ واک ته پای ور کړل شول چې د هر ډول تمې او توقع خلاف و، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شنجول په داسې حال کې د چارو واګې په لاس کې واخیستې چې یو بشپړ قـوي دولت يې په لاس کې درلود، جوړ نظام په لاس ورغی، اما تر درې میاشتې زیات وخت نه وو تیر شوی چې د منصور محمد بن ابي عامر په لاس جوړ شوی قـوي نظام چې هغه او زوی يې ۳۵ کاله ساتنه کړې وه، ټول اندلس ته يې امن راوستلی و، ده په دې لنډه موده کې دا هر څه له لاسه ور کړل.

**د خلافت سقوط:**

محمد بن هشام المهدي په داسې حال کې د خلافت ګدۍ ته ورسيد چې اندلس په یوه بد حالت کې قرار در لود، امویانو ځانونه د خلافت اصلي مستحقين بلـل، اما د عامريه دولت پلويان هم موجود وو، له صقالبه او د موالیو اصلي ملاتړي يې تر اوسه موجود وو، د ابن ابي عامر په وروستیو وختونو کې د بربریانو شـمیر هـم زيات شوی و، ډېری مشرانو يې په اندلس کې ځايونه نیولي وو، یو بل قـووت دا له عامو خلکو هغه مهال ور زيات شوی و چـې د قرطبـې عـامو خلکـو د خليفـه ملاتړ وکړ او هغه يې د واک وګدۍ ته ورساوه.

خليفه مهدي لومړی د بربریانو په ټکولو لاس پوري کړ، دی خپل خلافت تـه لـه دوی څخه خطر احساساوه، په دويم قدم کې يې د صقالبه لـور تـه لاس ور اوږد کړ، د هغوی مشران يې مشرقي اندلس ته جلاوطنه کړل، تر دې هم وروسته يې د خليفه هشام الموید لورته لاس ور واچاوه، لومړی يې له نظربندۍ د پلازمينې يـوه کور ته نقل کړ او بیا يې د ۳۹۹ هـ مهال د شـبعان پـر ۲۷ تـاريخ د هغـه د مړينـې اعلان وکړ.

له دې سختو حالاتو او بربریانو سره د مقابلې باوجود هشام بن سلميان بن النـاصر د ۳۹۹ په شوال کې د خپل ځان پر ضد د خلکو کرکه هغه وخت راوپاروله چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان يې خليفه اعلان کړ او خپل ځان ته يې د رشيد لقب غوره کړ، په دې سره يې خپل ملاتړي د قرطبې خلک خان ته غوسه کړل، هغوی د ده له ملاتړه لاس واخيست، هشام، د ده زوی، ورور ابو بکر او نور مشران يې ونيول او د ټولو د اعدام اوازه يې خپره کړه.

په قرطبه کې يوه عامه بلوا جوړه شوه، بربريان راووتل او خپل صفونه يې منظمول، په دې ګډوډ حالت کې د واک چارې د سليمان بن الحکم المستعين لاس ته ورغلې، د رباح په نوم يو ښار يې ځان ته مرکز وټاکه، بيا يې د وادي الحجاره ښار هم په زور لاندې کړ او د يوه څه وخت لپاره يې د سالم ښار هم محاصره کړ او بيا بيرته خوشي کړ.

واضح صقلبي په دې وخت کې د مستعين پر قواوو مرستې او خوراکي توکي بند کړل، په اخر کې يې د قشتاله له امير سانشو غورسيه سره خبرې وکړې، يو تړون يې ورسره مانه چې دی يې د ځينو شرطونو په ور کړه له دې محاصرې خلاص کړ.

د ۳۹۹ په ذي الحجه کې د مستعين او واضح صقلبي د قوتونو ترمنځ په شرنبه سيمه کې جګړه وشوه، چې د واضح صقلبي په ماته پای ته ورسيده، دی خپلې پلازمينې قرطبې ته ولاړ چې د مستعين قوتونو يې تعقيب کاوه، هلته تر يوې لنډې جګړې وروسته د ربيع الاول پر ۱۳ تاريخ د ۴۰۰ هـ مهال د مستعين قوتونه قرطبې ته داخل شول، مستعين خپل خان خليفه اعلان کړ.

په دې وخت کې خليفه مهدي د طليطلې خواته فرار وکړ او هلته په تياري بوخت شو چې خپل له لاس وتلی خلافت بيرته تر ګوتو کړي، له واضح صقلبي سره يې اړيکې ونيوې، واضح د برشلونه له امير رامون ثالث او د هغه له ورور ارمنجول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره خبرې وکړې او د مهدي مرسته یې ترې وغوښته چې هغوی سخت شرطونه ورته کېښودل او د واضح تر موافقې وروسته خلیفه مهدي له مجبوریته ورسره هوکړه وکړه.

د ۴۰۰هـ د شوال په نیمايي کې دواړه لښکرې د عقبه البقر په سیمه کې یو له بل سره مخ شوې، سلیمان د مستعین د ماتې تمه در لوده، مستعین د ځان ژغورنې لپاره له میدانه تیښته وکړه، خو د بربریانو قواوو د مهدي له قوې سره ښه په خرپ جنګ وکړ او درانه تلفات یې ور کړل، تر دې وروسته یې له قرطبې خپل بال بچ وایستل، مالونه یې واخیستل او د وادي اره لورته یې مخه کړه، څو مهدي دویمه پلاه هلته داخل شي او ځان خلیفه اعلان کړي.

مهدي په هغوی پسې ورغی، له وادي اره سره یې جګړه ورسره وکړه چې تر سختې جګړې وروسته خلیفه ماته وخوړه او خپل پاته لښکر یې قرطبې ته راستون کړ، په دې سره بربریانو هلته دلته بریدونه کول چې د قرطبې خلک له دې حالت او د مهدي له کمزوري سیاسته تنګ راغلل، په دې وخت کې واضح له مهدي د ځان خلاصولو لپاره موکه مناسبه وبلله، نو یې خلیفه موید راپیدا کړ چې مهدي یې د مرګ اوازه خپره کړې وه او د خلکو تر مخ یې له هغه سره په ذي الحجه ۴۰۰ هـ کې د خلافت بیعت وکړ. هشام موید په دې وخت کې د ۴۷ کلونو عمر ته رسیده چې د بوډاتوب دوره بلله کېږي.

اما له دې سره د مستعین او بربریانو حملې پر قرطبه رواني وې چې د خپل واک تر لاسه کول یې غوښتل. پر پلازمینه له هرې خوا توره شپه شوه، د دواړو ډلو ترمنځ د سولې شونتیا هم نه وه او که وای هم نو په دې حالاتو کې به د نورو سختو شرایطو سبب شوې وای، له دې سره هر ډول وسیلې او واسطې له منځه ولاړې، په دې وخت کې واضح صقلبي په دې باوري شو چې په پلازمینه کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه نامعلوم برخلیک په تمه ناسته ښه نه ده نو يې هڅه وکړه چې وتښتي خو د پوځ د مشرانو له لوري يې پلان افشا شو، هغه يې ونيوى، مالونه يې ترې واخيستل او دى يې اعدام کړ.

د شوال په اخر د ۴۰۳ هـ مهال مستعين په زور قرطبه ونيوه، مويد خليفه يې مړ کړ او ځان يې د دويم ځل لپاره خليفه اعلان کړ. په داسې حال کې يې د دولت د چارو په تنظيم پيل وکړ چې ګډوډي هر لورته خپره شوې وه، بربريانو د دولت پر مهمو منصبونو منګولې ښخې کړې وې، يوازې قرطبه او شاوخوا سيمې د هغوى له نفوذه وتلې وې، سليمان غوښتل چې هم هغوى راضي کړي او هم يې له قرطبې لرې وساتي، د دې لپاره يې د اندلس مهمې برخې د هغوى ترمنځ وويشلې، دوى شپږ قبيلې وو، د صنهاجه قبيلې مشرانو ته يې د بيره(غرناطه) ولايت ور کړ، د مغراوه قبيلې ته يې د هيواد منځنۍ برخه ور کړه، د بني برزال او بني يفرن خلکو ته يې د جيان او ورسره تړلې سيمې ور کړې، بني دمروازداجه ته يې د شذونه او موررور سيمې ور کړې، منذر بن يحيى التجيبي ته يې د سرقسطه او ثغر اعلى ور کړل، د بني حمود کورنۍ ته يې د ثغور مغرب برخه ور کړه.

په دې ټولو يادو قبايلو کې بني حمود الصنهاجيين ځکه مهم دي چې دوى د هيواد په راتلونکي کې مهمه ونډه لري، د قاسم بن حمود بن علي په نوم يوه کس يې جزيره الخضراء واخيسته، د هغه بل ورور علي بن حمود دوه ښاره په ولکه کې واخيستل سبته او طنجه، بني حمود چې د مغرب او خضراء جزيره واخيستل د مستعين ګومانونه وپاشل شول او دولت يې د تلو له ګواښ سره مخ شو.

ابن حمود ته پر خليفه د قيام لپاره فضا مناسبه وبريښيده، له سبته ښاره د خضراء جزيرې ته راکښته شو، له خپلو لښکرو او ملاتړو سره يې پر قرطبه بريد وکړ، د مستعين او ابن حمود د قوتونو ترمنځ خونړۍ جګړه وشوه چې مستعين ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخوړه او ابن حمود د محرم پر ۲۸ تاریخ د ۴۰۷ هـ مهال قرطبې ته داخل شو. پر همدې یاد تاریخ د مستعین خلیفه په اعدام د حمودیې خلفاؤ سلسله پیل شوه.

لومړی علي بن محمود واک د یوه کال لپاره ونیو، په ۴۰۸هـ کې هغه قتل شو، قاسم بن حمود ورور یې واک ونیو، له ۴۰۸ تر ۴۱۲هـ یې خلافت وکړ، بیا یحیی بن حمود له ۴۱۲ تر ۴۱۳هـ په واک کې و، تر ده وروسته بیا قاسم بن حمود د دویم ځل لپاره خلیفه شو، له ۴۱۳ تر ۴۱۴ یې خلافت وکړ او د ده په زمانه کې د دوی د کورنۍ خلافت پای ته ورسید.

د خلافت پر ګدۍ یوځل بیا د اموي کورنۍ خلیفه ډېره ولګوله، عبد الرحمن بن هشام بن عبد الجبار المستظهر بالله خلیفه شو، دی د خلافت په لومړي کال یعنې ۴۱۴ کې ووژل، تر ده وروسته محمد بن عبد الرحمن بن عبد الله بن الناصر المستکفي بالله خلیفه شو، تر هغو یې خلافت وکړ چې په ۴۱٦ هـ کې دی هم ووژل شو.

تر ده وروسته بیا د حمودیانو کورنۍ ته خلافت راستون شو، یوځل بیا یحیی بن حمود خلافت ونیو، خو د بخت ستوری یې چندانې ونه ځلید او بیرته امویان واکمن شول، ان چې له دوی اخر خلک ستړي شول، د دوی له درنو القالو خلکو نور خسته شول، اعمال یې نور د زغملو نه وو، اخر د ۴۲۲هـ مهال یې د خلیفه هشام الثالث المعتد بالله په عزل کولو د اموي خلفاؤ لړۍ ته د پای ټکی ور کړ او له اندلس څخه د خلافت سلسله هم ختمه شوه.

د پنځمې هجری پیړۍ له نیمایي څخه د اندلس په ښارونو کې ګډوډي پیل شوه، هر ښار یوه حاکم اداره کاوه، تر هغه وورسته چې ټول اندلس سره متحد او د یوه مرکزي قوي دولت تر اداري لاندې و، له شماله د جبل طارق تر تنګي او د بحر

(c) ketabton.com: The Digital Library



متوسط له شرقي ساحله بيا په غرب کې د محيط الاطلسي ـ تر ساحله ګـډوډي، خپلسري او يوه بلوا خپره وه. د هر ښار حاکم هڅه کوله چې د خپـل واک سـلطه پراخه کړي، د کورنۍ جګړې ميدان ګرم شو او ښارونه د کـورنۍ جګـړې پـه اور کې وسوځيدل.

دغه حالت اتيا کاله دوام وکړ، ان چې اندلس ته د مرابطينو قوتونه داخل شول، د هغوی په هڅو د اندلس ښارونه سره متحد شول، د هسپانيه د پاچاهانو په وړاندې ودريدل او د زلاقه په جګړه کې يوسف بن تاشفين هغوی ته سخته ماته ور کړه.

تر دې مخکې د اندلس پاچاهانو د يوه او بل په مقابل کې د هسـپانيه لـه شـمالي عيسوي پاچاهانو مرسته غوښته چې په مقابل کې به يې هر وخت هـم ټـيکس ور کاوه او هم به يې ځينې د مسلمانانو ښارونه هغوی ته ور کول، په دې وخت کـې يې د غرماج، اوسمه، شنت اشتبين او نورې مهمې و ستراتيژکې سيمې ايله کـړې چې د ناصر او منصور بن ابي عامر په وخت کې مسلمانانو پـه ډېـر تکليـف دغـه سيمې لاندې کړې وې او د هسپانيه د پاچاهانو پر ضـد د مسـلمانانو لپـاره د بريـا کيلی بلل کيدلې.

د **۴۲۲هـ** مهال د اموي خلافت تر سقوط وروسـته انـدلس د ملـوك الطوائـف لـه لوري وړو وړو پاچاهيو ته وويشل شو چې هر پاچا يا قبيلې مشر د خپلې سيمې د ساتنې لپاره نهايي هڅې کولې. قرطبه او د هغې شاوخوا منطقې يـوه پاچـاهي وه، اشبيليه او ورسره څيرمه د اندلس غربي سيمې بله پاچاهي وه، بطليـوس بيلـه وه، غرناطـه بيلـه وه، بلنيسـه او انـيلس شرقـي ورسره څرمـه سـيمې بلـه پاچـاهي وه، سرقسطه او ثغر اعلی ځان ته پاچاهي وه، طليطله او ثغر اوسط بيلـه وه او دانيـه و جزر البليار ځان ته يو تنګی واوره خوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قرطبه کې تر هغه وروسته چې ۴۲۲ مهال خلکو خليفه هشام ثالث له واکه گوښه کړ، نو پر وزير ابو حزم جهور بن محمد بن جهور يې اتفاق راغی چې د قرطبې د حکومت مشر يې وټاکه، هغه د واک لپاره يوه شورا وټاکله، ابن جهور د هغه مجلس په توسط د ټولو مشرانو او اميرانو لپاره خپل مسوولیتونه او دندې وټاکلې، ښه سياست يې وکړ او چارې هم تر يوه حده پر سم لورې روانې شوې، په دې توگه يې د حکومت په چارو کې د سيالانو او تمه خورو مخه ډب کړه، ان چې دغه حکومت د دولت الجماعه په نوم پېژندله کيده ځکه چې د چارو واگې يې له شوې شورا سره وې. په دې وخت کې قرطبه يو امن ځای و چې خلکو به پنا ورته راوړه. نژدې ۱۲ کاله په دې ښار کې د ابن جهور حکومت و.

د ۴۲۷ مهال چې ابن عباد يوځل بيا د خليفه هشام المويد د ظهور دعوه راپورته کړه، له هغه سره يو مشابه کس يې د خلافت د دعوې لپاره را څرگند کړ، د اندلس مشرانو ته يې د بيعت لپاره پيغامونه ولېږل، ځينو کسانو يې پيغام ته مثبت ځواب ور کړ لکه عبد العزيز بن ابي عامر د بلنسيې مشر، مجاهد العامري د دانيه او مشرقي الجزائز واکدار او د قرطبې حاکم ابن جهور هم د هغه پيغام ومانه که څه هم په زړه کې يې پر دې خبره باور نه در لود، خو له حموديانو څخه د پرلپسې بريدونو د خونديتابه لپاره يې د ابن عباد دغه حيله گټوره وگڼله او ده هم له دې امله ورسره ومنله. تر ۴۳۵هـ پورې ابن جهور په قرطبه کې حکومت وکړ، تر ده وروسته يې چارې زوی ابو الوليد محمد بن جهور ته ور له غاړې شوې، ده د خپل پلار سياست مخته وړی، خو بيلابيلو حالاتو دې اړ کړ چې له واکه لاس واخلي او خپل زوی د واک لپاره رامخکې کړي، زوی يې عبد الملک د دې وړتيا نه در لوده، د چارو واک يې د پلار وزير ابراهيم بن يحيى بن سقاء ته وسپاره، اما د هغه له ښه تدبير سره يې په ۴۵۵ کې اعدام کړ. بيا د ده د دوو زامنو ترمنځ د قدرت پر سر شخړه شوه، پلار يې ابو الوليد اړ شو چې د زامنو ترمنځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت ویش وکړي، عبد الملک ته یې د قواو مشري ور کړه او مالي چارې یې عبد الرحمن ته وسپارلې، عبد الملک په دې ویش راضي نه شو نو ورور یې عبد الرحمن ونیو او په زور یې پر هغه ټیکس ولگاوه.

په داخل کې دغې اوضاع د طلیطلې مشر ته زړه ور کړ چې د دوی پر خاوره برید وکړي، د مدور کلا یې ونیوه او د قرطبې پر لور یې پر مختگ وکړ، عبد الملک مجبور شو چې له بني عباد څخه مرسته وغواړي، بني عباد قرطبه د طلیطلې له مشره وساتله خو خپله یې د ٤٦٢ مهال قبضه پر وکړه چې د بني جهور ۴۰ کاله واک یې پای ته ورساوه او هغوی یې د شلطیش جزیرې ته وشړل.

د بني عباد د دولت موسس محمد بن عباد په نوم یو کس و چې اصل یې منذر بن ماء السماء ته رسېږي، محمد په اشبیلیه کې قاضي تیر شوی او د خلکو باور یې خپل کړی و، د گډوډۍ مهال دی هم په هغه مجلس کې وو چې د دې ښار د تنظیم لپاره جوړ شوی و، کله چې پر اشبیلیه بني حمود حمله وکړه ده یې په ډېر ذکاوت دفاع وکړه او هغوی یې په دې بانه له ښاره لرې کړل چې دا به د هغوی د خلافت برخه وي او د هغوی په نوم یې خطبه پیل کړه، د ۴۲۶ پر مهال اړ شو چې د هشام الموید څیرې ته ورته یو کس یې را پیدا کړي او هغه یې خلیفه هشام ونوماوه څو د حمودیانو له مشکله ځان په وساتي. د ۴۳۳هـ مهال چې محمد بن عباد وفات شو، زوی یې د هغه ځای ناستی شو، ابو عمرو عباد بن محمد معتضد یې لقب و، دا ډېر سخت زړی انسان و، د خپلو دربار او نورو مشهورو شخصیتونو په وژلو او له منځه وړلو یې شروع وکړه، ده یوازې پر خپل قوت تکیه در لوده، مورخان وایي چې له ده یې وزیران داسې ډاریدل لکه سیالان چې یې بیرولي وو، د هغو کسانو په لړ کې چې ده په خپله له منځه وړي یو د ده خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی اسماعیل دی چې ده وژلی دی، بل د اندلس نوموتی عالم عمر الهوزني دی چې د علم شهرت یې نړۍ ته رسیدلی و.

بني عباد په اندلس کې ډېره پراخه پاچاهي جوړه کړه، خورا زیات ښارونه یې لاندې کړل، د حمودیانو پاچاهي یې له منځه یووړه، د پخواني اندلس لویه برخه یې په واک کې وه، د جزیره نما له جنوبه یې مثلث په واک کې در لود، په شمالي اندلس کې د فرنتیر له ځمکې نیولې بیا د وادي کبیر تر ساحله، په غرب کې د وادي کبیر له ساحله واخله بیا په پرتګال تر جنوبه او د محیط اطلسي ـ تر ساحله یې سیمې په واک کې وې. د ډېری ملوک الطوایف وړې پاچاهیانو یې حذف کړې، تر ډېرو نورو پاچاهیو د طبیعي مواردو او جنګي قوت له مخې پیاوړې وه، په اندلس کې بل داسې قوت موجود نه وو چې د اشبیلې د واکمن دې ترې سترګه سوځیدلې وای، یوازې د قشتاله پاچا فرنانـدو اول هغه څوک و چې د اشبیلې واکمن ترې په ویره کې و.

د ۴۴۴هـ مهال یې له قشتاله یو لوی لښکر د طلیطلې پر لور روان کړ، د زراعت ځمکې یې خرابې کړې، اباد ځایونه یې خراب کړل او د طلیطلې پاچا مامون بن ذي النون یې اړ کړ چې له ده سره سوله وکړي او ټیکس ورته ومني. د ۴۵۵ مهال یې بیا د بطلیوس او اشبیلې پر خاوره برید وکړ، معتضد بن عباد اړ شو چې د مامون په شان سوله طلب کړي او ټیکس ورته ومني، معتضد په خپله د هغه پوځي تمځي ته ورغی، په خپله یې هغه ته ژمنې ور کړې او سوله یې ور سره وکړه، کله چې فرناندو یې اول درې کاله وروسته وفات شو او د هغه زوی سانشو یې ځای ناستی شو، معتضد هغه ده ته هم ټیکس ور کاوه لکه د هغه پلار ته چې یې ادا کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۴۶۱ مهال متعضد مړ شو او پر ځای یې ابو القاسم محمد بن عباد المعروف په المعتمد کېناست، د ده په وخت کې قرطبه له اشبیلې سره د ۴۶۲ مهال یوځای شوه، تر دې وروسته د غرناطې له حاکم سره په شخړه اخته شو، دواړه طرفونه د سختو شخړو له امله اړ شول چې د شمالي هسپانیه له پاچا د خپل مخالف د پرزولو لپاره مرسته وغواړي، خو په مقابل کې یې هغوی ته ښارونه او درنې بیې ور کولې. هغه مهال چې د غرناطې پاچا عبد الله بن بلکین د قشتاله له پاچا الفونسو شپږم سره د تړون هڅه وکړه، معتمد هم خپل اول وزیر ابوبکر بن عمار الفونسو ته ولېږه او د یوه درانه مالي عوض په ور کولو یې هغه ته ژمنه ور کړه چې پر غرناطه برید وکړي د بریا په صورت کې به معتمد ته ښار پاتېږي او الفونسو ته به د الحمراء کلا ور کول کېږي له تړولو هغه څه سره چې هلته وموندل شي، په دې سره شپږم الفونسو ته د غرناطې د خرابۍ بانه په لاس ورغله او پر غرناطه تبا کوونکې حملې وکړې. اخر الفونسو د ۴۷۸ مهال پر طلیطله برید وکړ او د هغې واک یې په خپل لاس کې واخیست. د الفونسو دې اقدام ملوك الطوایف اړ کړل چې له مرابطینو څخه د هغوی خلاف مرسته وغواړي، معتمد په دې وخت کې ویل چې د اوښان ګرزول د خنزیانو تر پولو ډېر ښه دي، مرابطینو ته یې خضراء جزیره ور کړه چې هغوی په کې خپل لښکر پلی کړ او بیا یې د الفونسو لښکرو ته ماته ور کړه.

په اندلس کې هغه مهال اته واړه او غټ دولتونه موجود وو چې ټول وخت یې یو د بل په پرزولو او له کافرانو څخه د خپل مسلمان ورور په ماتولو کې په مرسته تیریده، دوی به کافرانو ته ښارونه او درنې جزیې ور کولې چې خپل مسلمان ورور ورته وپرزوي، تل یې له یوه بل سره شخړې وې او دومره قوت چې یې تر خپل منځ په جګړو کې اوبه کړ که یې د قشتالې د پاچا خلاف لګولی وای نو د اندلس تاریخ به نن بدل وای. اخر هغوی خپل منځي جګړو دې ته اړ کړل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قشتالې د پاچا پر خلاف مرابطينو ته د مرستې لاس اوږد کړي او هغوی د خپلې مرستې لپاره راوغواړي.

**مرابطين په اندلس کې:**

د طليطلې تر سقوط درې مياشتې وروسته د اندلس پاچاهانو چې په سر کې يې معتمد و، له مرابطينو څخه د شپږم الفونسو خلاف مرسته وغوښته، په داسې حال کې چې تر دوی وړاندې د اندلس علماؤ او فقهاؤ له خپلو پاچاهانو تر ناهيلۍ وروسته له مرابطينو څخه ډېر پخوا لا اندلس ته د ورتلو هيله کړې وه.د اندلس اتحاد ته علماؤ زيات کار وکړ لکه مشهور عالم ابن عبد البر ابو عمر يوسف بن عبد الله النمري چې د مغرب او اندلس علامه و، ابن حيان ابو مروان حيان بن خلف الاموي، ابو الوليد الباجي سليمان بن خلف التجيبي القرطبي، ابن حزم ابو محمد علي بن احمد بن سعيد الظاهري او گڼ نور علماء موجود وو چې د اندلس وحدت ته يې کار کاوه او کله چې ناهيلي شول نو تر پاچاهانو مخکې يې له مرابطينو وغوښتل چې اندلس وژغوري.[٢٤]

تر علماؤ او عوامو خلکو وروسته د اندلس پاچاهانو هم بله لار نه در لوده نو په قرطبه کې يو مجلس جوړ شو چې پاچاهان، علماء او فقهاء يې ورته راغوښتي وو. دوی ټولو په مشوره يو خط وليکه چې له يوسف بن تاشفين څخه يې مرسته غوښتې وه، د اندلس ټولو اميرانو لاسليك پر وکړ، له دې خط سره يې گران بيه ډالۍ هم ور ولېږلې. دغه پيغام د دې کسانو په توسط ولېږل شو:

---

[٢٤] الزلاقه معركه من معارك الاسلام الحاسمه في الاندلس: ١٧٨، ١٧٩، ١٨٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبيد الله بن ادهم د قرطبې قاضي چې د خپل وخت هوښيار او ذهين انسـان و، د معتمد وزير ابو بكر بن زيدون، قاضي متوكل على الله عمر بن الافطس د بطليوس امير، قاضي عبد الله بن حبوس بن ماكسن الصنهاجي د غرطانې حاكم.

له يوسف سره دغه پلاوي د سبته په ښار كې وليدل، هغه يـې غوښـتنه ومنلـه وې ويل: د دې دين د مرستې لپاره اول زه تيار يم، د مرستې دغه كار بـه زه خپلـه پـر غاړه اخلم.[۲۵]

په اندلس كې د مرابطينو شتون څو مرحلو ته ويشل كيږي:

لومړۍ مرحله: دا هغه مرحله ده چې مرابطينو او د اندلس پاچاهانو يوځـاى د هسپانيه د پاچا خلاف يوځايي جهاد وكړ له ۴۷۹ تر ۴۸۳ هـ پوري. د مرابطينو امير يوسف بن تاشفين له المغرب څخه خپلې لښكرې اندلس ته د ۴۷۹ په ربيع الاول كې تيرې كړې چې د اندلس د پاچاهانو مرسته وكـړي او د طليطلـې ښـار بيرتـه د اسلامي دولت لورته راوګرزوي.

د يوسف دغه اقدام د اندلس ټولو پاچاهانو وستايه او له هغـه سره يوځـاى يـې د جهاد في سبيل الله لپاره ملاوتړله چې يا به برى تر لاسه كوي يا به د الله په لار كې شهيدان كيږي. الفونسو په دې وخت كې د سرقسطه ښار محـاصره كـړى و، كلـه چې يې دغه تازه خبرونه غوږ ته ورسيدل نو محاصره يې ماته كړه او له اروپا څخه يې د مرستې غوښتنه وكړه، د اروپا له نورو سيمو څخه هغه ته د مرستې تر رسـيدو وروسته د زلاقه[۲۶] ستره جګړه د ۴۷۹ په رجب كې د جمعې په ورځ پېښه شوه چې

[۲۵] الزلاقه... مخ: ۱۸۱- ۱۸۳.
[۲۶] زلاقه نوم يې مسلمانانو ور كړى دى او اروپايان يې د ساكر الياس نوم وركوي، دا سيمه د اندلس په شمال شرقي برخه كې ده چې اوس مهال د پرتګال پر حدودو پرته ده. الزلاقه...مخ: ۱۸۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هسپانيه لښکرو ماته پکې وخوړه، شپږم الفونسو پکې زخمي شو او له مات گوډ لښکر سره د طليطلې ښار ته وتښتيد. د زلاقه جگړه د اندلس په تاريخ کې له مهمو جنگونو شمېرل کېږي، يوه لورته ټول پاچاهانو د اصلي دښمن خلاف په يوه صف کې راټول وو او بل لور ته يې اصل دښمن ته له عبرت ډک درس ور کړی و، که څه هم د طليطلې ښار د مسلمانانو لاس ور نه غی.

تر بريا وروسته يوسف بن تاشفين المغرب ته ستون شو او د مرابطينو يو څه پوځ يې په اندلس کې د مسلمانانو د ساتنې لپاره پريښود ځکه د زلاقه تر ماتې وروسته د هسپانيه پاچا د انتقام لپاره د اندلس پر مسلمانانو مسلسل بريدونه کول. په همدې وخت کې د هسپانيه په شرق کې د الييط ښار موجود هسپانويان هم په خوځښت کې راغلل، د لورقه او مرسيه پر ښارونو يې بريدونه وکړل او د اندلس فقهاء او معتمد ابن عباد اړ شول چې له المغرب څخه يوځل بيا يوسف بن تاشفين راوبولي. هغه د ۴۸۱هـ مهال په ربيع الاول کې دويمه پلا اندلس ته راغی او د الييط ښار يې محاصره کړ، د ملوك الطوايف لښکرې هم له يوسف سره يوځای شوې، څلور مياشتې دغه ښار محاصره و، کله چې د ژمي وخت پيل شو مسلمانان د لورقه لور ته شاته شول او هسپانويانو له الفونسو شپږم څخه مرسته وغوښته هغه راغی دوی يې له ښاره وايستل او د ښار ديوالونه يې ړنگ کړل، په دې ډول دواړه خواوې يوې پريکنده جگړې ته سره داخلې نه شوې او مسلمانان د دې ښار له شره وژوغورل شول. تر دې وروسته يوسف بيا المغرب ته ستون شو او د مرابطينو يوڅه لښکر يې د اندلس د ساتنې لپاره خوشې کړ. مگر هغه ته ژر خبر ورسيد چې ملوك الطوايف تر خپل منځ په شخړو سره اخته دي او نه يوازې اختلاف سره لري بلکې ځينو يې له الفونسو شپږم څخه مرسته هم غوښتې ده، يوسف په دې وخت کې دوې لارې در لودې چې يا خپلې لښکرې له اندلس څخه وباسي او اندلس د يوه اسانه ښکار په شان الفونسو ته خوشې کړي يا هم پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل قوت تکیه وکړي او ملوك الطوایف ټول له قدرت څخه وباسي او د الفونسو خلاف یوازې د جهاد میدان ته ووزي.

**له قدرته د ملوك الطوائف ایستل کول او د اندلس اتحاد:**

دویمه مرحله: څو عوامل موجود وو چې یوسف د اندلس پاچاهان له واکه ګوښه کړل:

اول: د هغوی ترمنځ شدید اختلافات چې په هیڅ صورت یو له بل سره نه جوړیدل، په داسې حال کې چې یوسف پوره هڅې وکړې چې دغه اختلافات ختم کړي اما ناکام شو.

دویم: په اندلس کې د مرابطینو ترینګی حالت، ځکه ملوك الطوایف له الفونسو سره لاس یو کړی و چې یوسف بن تاشفین یې په غوسه کړ.

درې: مرابطینو د اندلس د ژغورنې لپاره د زلاقه او حصن الیط په جګړو کې زیاتې قربانۍ ور کړې، په داسې حال کې چې د اندلس پاچاهانو دا قرباني د اسلامي اخوت له امله پر هغوی لازمې وګڼلې او د هغوی د درناوي پر ځای یې بیرته خپلې پخوانۍ دښمنۍ سره پاللې، د یوه بل خلاف یې له هسپانوي پاچاهانو مرستو ته لاس اوږد کړي او د مرابطینو لښکر ته یې دسیسې جوړول پیل کړل.

یوسف اړ شو چې د دوی په اړه پریکنده دریځ ونیسي، د خپل دریځ د پیاوړي کولو لپاره یې په دې اړه د مشرق او اندلس له علماؤ فتاوا طلب کړه، د مشرق په علماؤ کې د غزالي او طرطوشي په شان سترو فقهاؤ د هغوی د خلع کولو فتوا ور کړه چې دا فتوا دوی ته په ۴۹۳ کې ورسیده او ده هغوی په ۴۸۳ کې خلع قدرت کړي وو، دویم په اندلس کې د علماؤ فتوا او د عام ولس غوښتنه وه چې د خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچاهانو له ناوړه کړنو تر پزې راغلي وو. د اندلس په علماؤ کې مشهوره څېره، د فقهاؤ سرلاری او د قرطبې قاضي ابو جعفر بن القليعي و چې په خپله المغرب ته ولاړ او د مرابطينو امير ته يې د ځينو چارو په اړه په خپل خبر ور کړ.

يوسف د ۴۸۳ په لومړيو کې بيا اندلس ته راغی، لومړی يې د ملوك الطوايف په خلع قدرت پيل نه دی کړی، بلکې اول يې د اصلي دښمنانو لور ته مخ کړ چې له خپلو دوستانو سره د خلع قدرت مهال بيا مرسته ونه کړي، يوسف خپل لښکر د قشتاله د مرکز طليطلې لورته بوت، هغه يې ټينګه محاصره کړه، د هغې په شاوخوا کې يې نور ښارونه تر بريدونو لاندې ونيول او د قشتاله لورته پر تلونکي لار يې د رباح په نوم يوه کلا هم محاصره کړه. د قشتاله پاچا الفونسو شپږم د دې حالت لپاره تياري کړې وه، له يوسف سره په پريکنده جګړه کې ونه ښت، نو د يوسف لښکر چې ډاډه شو د الفونسو او اندلس د پاچاهانو ترمنځ يې اړيکه غوڅه کړې ده، بيرته يې لښکر راټول کړ، په دې جګړه کې نه يوازې د اندلس لښکر هغه سره ملګری نه و، بلکې د اندلس پاچاهانو د هغه د ماتې او بربادۍ انتظار کاوه چې دوی يې له شره د دوی په اند خلاص شي.

د اندلس واکمنو د مرابطينو خلاف د هسپانيه له واکمن سره اړيکې ټينګې کړې وې، له دې امله مرابطين اړ شول دوی له قدرته ګوښه کړي، نو د ۴۸۳ مهال يې د غرناطې پاچا له واکه لرې کړ، د ۴۸۳ او ۴۸۴ په منځ کې يې د اشبيلې پاچا له واکه ايسته کړ، د مريه واکمن يې په ۴۸۴ کې خلع قدرت کړ، د مرسيه دا يې هم په ۴۸۴ کې له واکه وغورزاوه، د بطليوس واکمن يې د ۴۸۸ مهال وپرزاوه، د البونت د امارت واکمن يې د ۴۹٦ مهال له واکه ګوښه کړ، د شنتمريه امارت يې د ۴۹۷ مهال له منځه يووړ، د سرقسطه ممکلت ته يې د ۵۰۳ مهال د پای ټکی ور کړ، د دې سيمو نيول د دې لپاره اړين وو چې له اندلس څخه د هسپانيه د واکمنانو تمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پریکړي نو له دې امله یې د اندلس د اتحاد لپاره دا ټولې هڅې وکړې او ملوك الطوایف چې د مرابطینو لپاره یې دسیسې جوړولې هم دا خطر ایجاد کړ چې که له واکه ګوښه نه شي نو تر هسپانویانو وړاندې به دوی پر مرابطینو بریدونه وکړي او قوت به یې اوبه کړي.

مرابطینو په اندلس کې د هسپانیه د لښکرو خلاف دوو مرحلو کې جګړې وکړې چې یوه یې له ۴۸۳ تر ۵۲۳ کېږي، په دې مرحله کې بریا له مرابطینو سره وه چې د دښمن پر لښکرو یې بریدونه کول، د قشتاله پر مرکز طلیطله یې برید وکړ او ځینې ښارونه یې ترې ونیول، د اقلیش په جګړه کې چې د طلیطلې په شرق کې وشوه او یوه پریکنده جګړه بلله کېږي د ۵۰۱ مهال پکې مسلمانانو د دښمن لښکر ته ماته ور کړه او د الفونسو زوی او د لښکر امیر سانشو پکې ومړ، تر دې بري وروسته مرابطینو د طلیطلې پر ښار پرلپسې حملې وکړې نږدې وه چې هغه بیرته ونیسي په خاص ډول د ۵۰۷هـ په جګړه کې.

دویمه مرحله:

دویمه مرحله له ۵۲۳ څخه پیل تر ۵۴۲ پورې رسېږي. تر هغه وروسته چې د قلاعه په جګړه کې مرابطینو ماته وخوړه نو د قشتاله لښکرو په تکراري توګه د اندلس پر ښارونو بریدونه پیل کړل. د قشتالې لښکرو د جګړې څو محاذونه خلاص کړل چې د اندلس پر ښارونو یې بریدونه ترې کول.

د قرطبې محاذ چې په ۵۲۴، ۵۲۸، ۵۳۶ او ۵۳۸ کې یې پر قرطبه او شاوخوا سیمو بریدونه وکړل.

د اشبیلې محاذ چې د قشتاله لښکرو پر ښار او ورڅرمه سیمو د ۵۲۶، ۵۳۶ او ۵۳۸ مهال بردیدونه وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بطليوس او لويديځ اندلس محاذ چې په دې محاذ کې هغوی د ۵۲۸، ۵۳۲ او ۵۳۶ پر مهال بريدونه وکړل.

په دې موده کې ددې ښارونو د ساتنې مسووليت يوازې د مرابطينو له غاړې وو چې په وچ زور يې د دښمن مخه نيولې وه، هغوی په کله جګړه کې بريا خپلوله او کله به يې بايلله چې په دې صورت کې به يې خپل غوره کسان او مشران شهيدانيدل.

مرابطينو د پرتګال له واکمن سره هم په دوو مرحلو کې جنګونه کړي دي، په لومړۍ مرحله کې مرابطينو د بطليوس ښار مرکز کړ او له پرتګاله يې ځينې سيمې ونيولې لکه يابره، اشبونه او شنترين چې دا يې د ۵۰۵ مهال نيولي وو او د ۵۱۱ مهال يې د قلمريه ښار ترې ونيو.

دويمه مرحله له ۵۳۳ څخه تر ۵۴۲ پورې رسېږي. په دې وخت کې د پرتګال واکمن ابن الرنګ د قشتاله له واکمن سره په ۵۳۳ کې سوله وکړه، تر دې وروسته يې خپل ټول زور پر دې وکړ چې له مرابطينو څخه له لاسه وتلې سيمې بيرته واخلي، په غربي اندلس کې يې ورته چمتوالی وکړ او د اوريک په جګړه کې يې ماته ور کړه، د مرابطينو خلاف د اندلسيانو له پاڅون هم د پرتګال امارت ګټه واخيسته او په دې وخت کې يې د شنترين، باجه، مارده او اشبونه سيمې ترې ونيولې.

په ۴۹۲ کې چې بيت المقدس د اروپايانو لاس ته ولويد، نو الفونسو په اندلس کې د مسلمانانو ګڼ ښارونه ونيول، د ۵۱۱ مهال يې تطيله ونيوه، په دې سره د سرقسطې دفاع کرښه ونړيده، د ۵۱۲ مهال يې سرقسطه محاصره کړه، اووه مياشتې محاصره اوږده شوه، د ۵۱۲ په رمضان کې الفونسو له خپلو حلفاؤ سره ښار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخل شو، د هغه ځای مسجد يې په کليسا بدل کړ چې د لاسيو کليسا نوم يې ورته غوره کړ، په ۵۱۲ هـ کې يې د روطه مضبوط ښار هم لاندې کړ، بيا يې د ۵۱۳ مهال د طرسونه پر سيمه هم واک ټينګ کړ، تر دې وروسته يې په ثغر اعلی کې تر ټولو پر مضبوط ښار د ايوب کلا هم ونيوله.

الفونسو د ۵۱۴ مهال د قتنده په جګړه کې مرابطينو ته ماته ور کړه، په دې جګړه کې زرګونه مسلمانان د خورا زيات شمېر فقهاؤ سره يو ځای شهيدان شول، د ۵۱۹ مهال يې د اندلس پر ښارونو يو بل بريد وکړ چې په دې سره يې د اندلس د دفاعي کرښې ضعف معلوم کړ او په دې کار کې د اندلس ځو ياغي باغي کړي هم ورسره ملګرې وې. د الفونسو نورې هغه جګړې چې ده پکې بريا تر لاسه کړه د ۵۲۳ مهال د القلاعه جګړه ده چې د اندلس په شرق کې وشوه، په دې سره يې د بلنسيه ښار دفاعي کرښې ماتې کړې او ورسره ځېرمه ښارونه او سيمې يې لاندې کړې. تر هغه وروسته چې الفونسو محارب خپل مخالفتونه د قشتاله له واکمن سليطين سره يوې خواته کړل، نو د ۵۲۴ مهال يې لښکر پر ثغر اعلی ور برابر کړ او د لارده، افراغه او مکناسه ښارونه يې ونيول، د طرطوشه له دفاعي ليکو چې يې ځان ښغمه کړ. يوازې د افراغه په جګړه کې مرابطينو د ارغون پاچا ته د لومړي ځل لپاره د رمضان مياشت په ۵۲۸ کې ماته ور کړه، تر دې ماتې وروسته الفونسو محارب څو ورځې وروسته ومړ.

تر هغه وورسته چې په المغرب کې د مرابطينو حکومت ختم او پرځای يې د موحدينو حکومت منځته راغی نو د ۵۴۱ مهال د موحدينو مشر عبد المومن درې لښکرې د اندلس د خلکو په غوښتنه اندلس ته ولېږلې چې هلته يې ځينې ښارونه په اسانۍ لاندې کړل او په ځينو کې د مرابطينو له لوري مقاومت ورسره وشو لکه د اشبيليه په ښار کې خو اخر هم موحدينو ونيو. په دې وخت کې چې د مرابطينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاف د موحدینو او اندلس د خلکو له لوري پاڅون پیل شو، هسپانویانو هم دغه موکه غنیمت وګڼله او څو ښارونه یې له مرابطینو څخه ونیول، په اخر کې د مرابطینو دوره د موحدینو په لاس پای ته ورسیده او وروستی ښار د غرناطې و چې یحیی واکمن یې مړ شو او د ۵۵۱ مهال یې میمون په نوم حاکم موحدینو ته تسلیم شو. د اندلس تر متحد کولو وروسته موحدینو په ۵۵۲ کې د مریه ښار چې هسپانویانو په ۵۴۲ کې نیولی و، تر اووه میاشتې محاصرې ورووسته بیرته ونیوی. تر دې وروسته په اندلس کې د هغه ځای د حکامو او موحدینو ترمنځ جنګونه ادامه پیدا کوي چې د ګڼو ښارونو د کمزورتیا سبب کېږي. موحدینو له یوه طرفه د اندلس له واکمنو سره په جګړه اخته وو او له بله لوري یې د هسپانیه له کافرانو سره لاسونه په ګریوان کې بند کړي وو، چې په دې سره د هغوی قوت په اندلس کې کمزوری کیده او د هسپانویانو پرلپسې بریدونو د هغوی قوت اوبه کاوه او په افریقا کې هم هغوی ته جنجالونه را پیدا شول چې په دې سره یې په اندلس کې پاته قوت هم له منځه ولاړ او اندلسیان مجبور شول چې د خپل ځانند حفاظت لپاره په خپله یوه چاره ولټوي.

**د غرناطې د ممکلت دور (یا وړوکی اندلس):**

په کال ٦٦٨هـ کې د موحدینو حکومت په المغرب کې د بني مرین لاس ته ورغی او په دې توګه په اندلس کې هم د موحدینو پښې د هسپانویانو په وړاندې ولړزېدلې، د اندلس خلکو وپتېیله چې دوی باید له دښمن څخه ځانونه په خپله خوندي کړي، له دې امله نو هلته خپل اندلسي حکومتونه جوړ شول چې یو هم له دې څخه د غرناطې حکومت و چې د ابو عبد الله محمد بن یوسف بن نصر- المعروف بابن الاحمر الملقب بالشیخ والغالب بالله په مشرۍ جوړ شو. د غرناطې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت تر دوې پېړۍ زیاته موده دوام وکړ چې تر شـل یـې زیـات واکمنـان در لودل.

دغه حکومت د محمد بن یوسف بن الاحمر په لاس د ٦٣٥ پـر مهـال جـوړ شـو چې تر ٦٧١ یې حکومت وکړ، د غرناطې حکومت درې لوی ولایتونه یا ایالتونـه در لودل چې په منځ کې یې غرناطه، د مشرق لور ته د مریه ښـار او د جنـوب پـه خوا کې یې د مالقه ښار و. بنو الاحمر وکولای شول چې تقریبـا دوه نیمـې پېـړۍ دغه ښارونه خوندي کړي. درې مهم اسـباب وو چـې د دغـې سـیمې د خونـدي کول سبب شول:

اول: غرناطه د اندلس په جزیره نما کې د جنوب لور ته راتیره ده چې پـه دې سره دوی ته په اساني له المغرب څخه د سختی مهال مرسـتې رسـیدلې او هـر وخـت چې سختي پر راغلې ده د المرینه دولت مرسته ورسره کړې ده.

دوم: د غرناطې ممکلت خپل خلك زیاتره د وسلې پر زده کړه او له دښمن سره د جګړې دوامداره مخامختیا ته چمتو کړل، له دې قوت سره د غرناطې مملکت تـه هر وخت د اندلس له نورو سـیمو هغـه کسـان راتښـتیدل چـې ښـارونو بـه یـې د هسپانویوانو په لاس سقوط کیدل او دوی به غرنـاطې تـه راتلـل پـه دې سره دغـه قوت پیاوړی کیده او د دښمن مقابلې ته یې ښه چمتوالی در لود.

درې: دریېم مهم عامل دا هم و چې دلته خلك تل د جهاد لپاره سر په لاس ولاړ وو، لکه چې د جهاد جذبې اندلس فتح کړی و، په همدې ډول د جهاد جذبې تر دوه سوه کاله زیات دغه سیمه د دښمن له منګولو وساتله، د دغې سیمې خلك د جهاد لپاره ولاړ او په دې توګه یې د دښمن د حملو مخه نیـولې وه چـې څـه کـم دوه نیم سوه کاله یې خپله سیمه خوندي کړای شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د غرناطې سقوط او په اندلس کې د مسلمانانو د دورې پای:**

د ۸٦۹هـ مهال په المغرب کې د مرينه دولت د بني وطاس په لاس سقوط وکړ او دغه نوی دولت د هغه بل پرځای ډېر کمزوری او د اندلس له مسلمانانو سره يې مرسته نه شوای کولای، په دې توګه د اندلس مسلمانان له يوه ستر مرسته کوونکي ځواک څخه محروم شول.

د ۸۸۴هـ مهال د قشتاله او ارغون ممالک سره متحد شول چې د ارغون پاچا پنځم فرناندو د قشتاله له ملکې ايزابيلا سره د ۸۷۴ مهال واده وکړ او په دې توګه دغه دوه پياوړي ممالک د مسلمانانو په وړاندې سره يو شول چې نتايج يې د مسلمانانو لپاره ډېره زړه بوږنونکي وو.

فرناندو د غرناطې له مشر ابو الحسن علي څخه د سختو شرطونو په ښودلو د خبرو اترو غوښتنه وکړه چې ابو الحسن رد کړل په دې سره هغوی ته د حملو لار خلاصه شوه، په بيلابيلو وختونو کې به يې د غرناطې پر ګڼو برخو بريدونه کول او د مسلمانانو سيمه يې ور باندې تنګوله، د غرناطې جنوب غرب ته پرته د مدينه الحمه يا حامه سيمه په ۸۸۷هـ کې د فرناندو له لوري ونيول شوه تر دې وروسته يې د لوشه پر ښار حمله وکړه چې ناکامه شوه.

له ۸۸۷ بيا تر ۸۸۸هـ د غرناطې واکمن د ابو عبد الله صغير په نوم يو کس و، ده د قشتاله له پوځونو سره جنګ پيل کړ او د حاميه په جګړه کې يې ماته ور کړه، پرلپسې يې ځو نورې جګړې هم وګټلې چې اخر د لسانه له کلا سره په يوه جګړه کې بندي شو او د غرناطې چارې يې بيا پلار ابو الحسن علي له ۸۸۸ تر ۸۹۰ پورې په لاس کې واخيستې. د ۸۹۰ مهال ابو عبد الله الصغير د قشتاله له واکمن سره د سوله ييزې معاهدې په ترڅ کې را خوشي کړل شو. له ۸۹۰ تر ۸۹۲ هـ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرناطې واکمن د ابو عبد الله الزغل په نوم کس شو، له ۸۹۲ بیا تر ۸۹۷هـ پورې بیا ابو عبد الله الصغیر د غرناطې مشر شو، د دې پېښو په ترڅ کې د قشتاله پوځونو بیا پر لوشه ښار برید وکړ او د ۸۹۱ مهال دښمن ښار ته ننوت او د سولې شرطونه یې پر ښاریانو وتپل. په دې وخت کې د غرناطې د واکمنانو کورني اختلافات پیل شول، چې د الزغل او وراره ترمنځ یې دې اختلافاتو شدت وموند او اخر د غرناطې پاچاهي دوې ټوټې شوه.

د قشتاله واکمن د اندلس پر ښارونو پرلپسې بریدونه کول، د غرناطې شاوخوا یې کوټل چې د غرناطې ښار کمزوری کړي او دوی یې په لاندې کولو وتوانېږي، بالاخره د ۸۹۵هـ مهال الزغل د قشتاله له واکمن سره د سولې تړون وکړ او له مخې یې له اندلسه بهر شو او د الجزائر لور ته ولاړ. له غرناطې پرته نور ښارونه ټول دښمن ونیول، نو دښمن له ابو عبد الله وغوښتل چې غرناطه هم د ټاکلو شرطونو له مخې دوی ته تسلیم کړي. سلطان خپل مرسته کونکي او مشاورین راټول کړل او په دې اړه یې مشوره وکړه چې د دښمن اعلان شوي شرطونه یې ردکړل.

د ۸۹۷ په پسرلي کې د دښمن دوو پاچاهانو چې مېړه او ماینه وو، پر غرناطه برید وکړ په ډېر ویرونکي ډول یې محاصره کړه، د غرناطې مجاهدین به د موسی بن ابي غسان په مشري وتل او پر محاصره کوونکو لښکرو به یې بریدونه کول، د هغوی پلانونه به یې بریالي کیدا ته نه ایله کول او په دې توګه د محاصرې کړی اووه میاشتې اوږده شوه، اخر چې له هره لوري د غرناطې مسلمانان ناهیلي شول نو د مقاومت ځواک یې وکوټل شو، ټولې هڅې یې د دښمن په وړاندې ناکامه شوې او په ټولو خلکو کې یو ډول ناهیلي خپره شوه. د ۸۹۷ د محرم له پیل سره د ښار مشرانو پریکړه وکړه چې ښار به دښمن ته سپاري یوازې موسی بن ابي غسان یې مخالفت وکړ، له مجلس څخه په غوسه ووتی او همداسې تری تم شو. تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته مجلس وزیر ابو القاسم بن عبدالملک د خبرو اترو لپاره ولېږه چې د ۱۴۹۱ میلادي کال د میلاد د اختر په ورځ ترون لاس لیک شو او په دې لاندې شرایطو سوله وشوه:

۱ـ په قشتاله کې د مسلمانانو د بندي کسانو خوشي کول.

۲ـ د مسلمانانو سرونه، مالونه او عزتونه به خوندي وي.

۳ـ مسلمانانو به د هسپانوي حاکم تر مشري او واکمنۍ لاندې خپل نظم، قضا او شریعت باندې پاته وي.

۴ـ د دین، دیني شعایرو، مساجدو او اوقافو ازادي به په بشپړ ډول ور کول کېږي.

۵ـ هیڅ مسیحي به مسجد او د مسلمانانو کور ته نه داخلېږي.

٦ـ مسلمان به د هسپانیه په هره برخه کې ازاد وي او هیڅ ډول د پېژندنې نښه به نه لګوي.

۷ـ له مسلمانانو که څوک غواړي چې افریقا ته ولاړ شي، نو د هسپانوي پاچا په کښتیو کې تر درو کلونو تلای شي چې اجرت به یې هم نه غواړي.

۸ـ هیڅ مسلمان نارینه او ښځه به عیسویت ته په زور نه بلل کېږي.

۹ـ هسپانوی حاکم به له مسلمانانو سره د عدالت او نرمۍ برخورد کوي.

۱۰ـ اخر شرط دا چې مذهبي مشر به یې پر دې ترون موافقه کوي.

ابو عبد الله وغوښتل چې له غرناطې څخه د بشرات په نوم سیمې ته ولاړ شي، هلته ورته د ژوند کولو سهولتونه ور کړل شول چې دی به د قشتاله د پاچا اطاعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، د غرناطې له مشرانو او مخورو څخه پنځه سوه کسان د برمته په توګه د قشتاله حاکم ته ور کړل شول چې مسلمانان به د هغه له اطاعت څخه سرغړونه نه کوي او دغه يې يو ډول ضمانت و، دواړو پاچاهانو پر تړون لاسليکونه وکړل چې مسلمانان ډاډه شي خو دغه شرطون په وروسته کې ونه پالل شول او مات شول.

د ۸۹۷ په ربيع الثاني کې يو سهار د غرناطې دروازې د قشتالې د ځواکونو په وړاندې خلاصې شوې او څو قشتالي کسان ورغلل او له ابو عبد الله صغير څخه يې د ښار کيلياني واخيستې.

تر دې يوه ورځ وروسته غرناطې ته د دښمن د پوځ لومړۍ جوفه داخله شوه چې کونت ډي تنديلا يې مشري کوله او وروسته د غرناطې حاکم وټاکل شو، د الحمراء پر برج يې د سپينو زرو صليب پورته کړ او ورسره نژدې يې د قشتاله بيرغ هم ځوړند کړ، بيا دواړه پاچاهان بريالي ښار ته داخل شول او په همدې ورځ ابو عبد الله له خپلې مانۍ له کورنۍ سره يو ځای ووتی او پر ضايع شوې پاچاهۍ يې د حسرت او درد اوښکې تويولې، په البشرات کې د څو مياشتو تر تيرولو وورسته ابو عبد الله پوه شو چې دلته د ذلالت ژوند تيرول سخت دي، نو له اندلس څخه المغرب ته ولاړ او د فاس په ښار کې يې هستوګنه غوره کړه ان چې د ۹۴۰ هـ مهال همالته وفات شو.[٢٧]

**په اندلس کې د مسلمانانو د ماتې لاملونه:**

لومړی بايد دا يادونه وکړم چې مسلمانانو ټوله هسپانيه يا سپين نه ده نيولې، بلکې شمالي او مشرقي برخو کې يې ځينې سيمې له لومړي سره دښمن ته پاتې شوې چې د مسلمانانو په وړاندې يې مقاومت کاوه او دا مقاومت دا روحيه هم له دې

---

[٢٧] د دغې مقالې ټول مواد له تاريخ العرب وحضارتهم في الاندلس نومي کتابه اخيست شوي دي، که د بل کتاب مواد وي ځای پر ځای يې حواله ور کول شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایونو په نورو خلکو کې راپیدا او وغوړیده، ما د مقالې په سر کې د مسلمانانو د اشتباه تر سرلیک لاندې دې خبرې ته اشاره کړې ده.

سپین د اروپا د لویې وچې لپاره ډېره وړه برخه ده چې مسلمانانو لاندې کړه، که مسلمانانو هلته د خپلو سیمو ساتنه غوښتلای نو باید د اروپا لویه برخه یې لاندې کړې وای چې په دې سره یې د خپلو سیمو ساتنه ځان ته اسانه کولای شوای، اما د یوې وړې جزیره نما ساتنه ګران کار دی ځکه بل لور ته یې د دښمن درسته وچه ده چې له دې بسته وچې د یوې جزیرې ساتنه مشکل کار دی او دا وروسته تجربو ثابته هم کړه.

تر لومړیو فتوحاتو وروسته مسلمانان په خپل منځي شخړو اخته شول، چې له دښمنه یې توجو واوښته او خپل قوت یې تر خپل منځ سره مصرفاوه چې په توګه یې دلته د دښمنۍ تخمونه کرل او له بهره یې توجو اړولې وه.

مذهبي اختلافات بل هغه سبب دی چې مسلمانان یې په اندلس کې کمزوري کړل او اخر یې له نابودۍ سره مخ کړل.

د مسلمانانو کمزوري او عیاش مشران چې هیڅ وخت یې تر خپلو شخصي-ګټو عمومي د اندلس او ټول عالم اسلام ګټو ته ترجیح ور نه کړله، دوی د اندلس په له منځه تللو کې تر بل هر چا زیات ملامت دي او لوی سبب یې هم دوی دي چې حتا یوه غرناطه پاته وه هم دوی تر خپل منځ سره متحد نه شول او د یوې غرناطې پاچاهي یې هم تر خپل منځو سره وویشله او اخر یې دواړې برخې د قشتاله حاکم ته وسپارلې.

د واکمنو میراثي کیدل، دوی نه یوازې دا چې بې اهلیته به وو، بلکې له عام ولس سره به یې اړیکې هم نه وې، د پاچاهي د کورني خلك وو چې د ولس له هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول درد څخه به خبر نه وو، له دې امله يې پريکړې يوازې د خپلو ګټو لپاره کولې او د ولس و اندلس ګټې يې په پام کې نه ساتلې.

د ملوك الطوايف دوره د مسلمانانو سخته په تاوان تمامه شوه چې اصلا د اندلس سقوط له همدې ځايه پيل شو، کله چې د مسلمانانو اتحاد پاتـه نـه شـو او هـر ولايت يو حاکم درلود چې د هغه ولايت چارې يې يوازې د خپلو کورنۍ د ګټو لپاره تنظيمولې، نو حالت تر خرابو خراب شـول او اخـر يـې پـه نتيجـه کـې ټـول اندلس له لاسه ووتی.

۵/۹/۱۳۹۹

۲۴/۱۱/۲۰۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه

۱ـ تـاریخ العـرب وحضـارتهم في الانـدلس، دوکتـور خلیـل ابـراهیم السـامرائي، دوکتور ذنون طه، دوکتور ناطق صالح مصـلوب، دار الکتـاب الجدیـد المتحـده، بیروت، یو ټوک، لومړی چاپ: ۲۰۰۰م.

۲ـ اندلس من الفتح الی السقوط، دوکتور راغب السرجاني.

۳ـ قادة فتح الاندلس، محمود شیت خطاب، د موسسه علوم القـران، منـار للنشرـ والتوزیع چاپ، دوه ټوکه، اول چاپ: ۱۴۲۴هـ ۲۰۰۳م.

۴ـ دولة الاسلام في الاندلس، محمـد عبـد الله عنـان، د مکتبـة الخـانجي چـاپ، قاهره، پنځه ټوکه، دوم چاپ: ۱۴۱۱هـ ۱۹۹۰م.

۵ـ البیان المغرب في اخبار الاندلس والمغرب، ابن عذاري المراکشي ابو عبـد الله محمد بن محمد، د دار الثقافه چاپ بیروت، دوه ټوکه، دریم چاپ: ۱۹۸۳م.

۶ـ الزلاقه معرکة من معارك الاسلام الحاسمة في الاندلس، جمیل عبد الله محمـد مصري، د الجامعة الاسلامیة چاپ مدینه منوره، یو ټوک.

۷ـ الکامل في التاریخ، بن اثیر، عز الدین ابو الحسن علي بـن ابي الکـرم، د عمـر عبد السلام تدمري په تحقیق، د دار الکتـاب العـربي چـاپ بیـروت، لـس ټوکـه، لومړی چاپ: ۱۴۱۷هـ ۱۹۹۷م.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**